# تقوا

علمي، دعوتي، فرهنګي او ادبي مجله

دوهمه ګڼه
رمضان المبارک، ۱۴۴۳ هجري قمري
وری، ۱۴۰۱ هجري لمریز کال
اپریل، ۲۰۲۲ میلادي

د امربالمعروف، نهی عن المنکر
او شکایتونو اوریدلو وزارت
د رسنیو او عامه اړیکو ریاست



حقیقت امربالمعروف و نهی عن المنکر؛ عملی ساختن احکام خداوند(جل جلاله) و سنت نبوی(صلی الله و علیه وسلم) در جامعه میباشد.

# اعدلوا هو اقرب للتقوی

مائدہ 8

شهر رمضان الذي أنزل فيه القرآن

## رمضان کریم

کل عام وانتم بخیر




# د امتیاز خاوند:

## د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اوریدلو وزارت

دوهمه ګڼه

مسوؤل مدیر: مولوي احسان الله حقپال

ایډیټور: محمد هاشم یوسفي

کتنپلاوی: مولوی محمد صادق عاکف، مولوی محب الله مخلص

مولوی رازمحمد حامد او مولوی حبیب الله ایوبی

طرح او ډیزاین: منګل شاه عادلي «مهمند»

ژباړن: خیال محمد توحیدیار

د چاپ او توزیع مدیر: محمد رفیق حسن زاده

خبریالان: عبیدالرحمن فضلی، کرامت الله کاوون

یادونه: په مجله کې خپرې شوې لیکنې د لیکوالانو آند دی او هغوی یې مسؤلیت په غاړه لري

شماره های تماس:

۰۷۷۲۶۸۴۶۸۵//۰۷۹۳۵۱۴۰۸۵

Email: Taqwa.Magazine2022@gmail.com

whatsapp: 0774306579

درک: شهر نو د ایمر جنسي روغتون ترڅنګ

کابل - افغانستان

## لړلیک

سرلیک........................................................ ۱
پیام تبریکی هیئت رهبری وزارت امربالمعروف...... ۲
له مدرسو تر پوهنتونونو د فکري او تطبیقي...... ۳
د داعي ځانګړتیاوي...................................... ۴
خط فاصل بین مسجد تقوا و مسجد ضرار........... ۸
رمضان، ماه بهار قرآن.................................... ۱۱
د یوې اړخیزي اصلاح ناکامي:......................... ۱۴
په اسلام کې د ښځې مرتبه او مقام.................. ۱۵
زما افغان، مسلمان او با احساسه زلمیه!........... ۱۸
بیت المال او غنیمت کې خیانت کول............... ۱۹
هغه کرښې چې د خیانت په وړاندې نفرت .......... ۲۱
بحث مشترک پیرامون مشلات تجاران و............. ۲۴
د داعي صفات او آداب.................................. ۲۵
په نبوي سیرت کې د دیپلوماسي ځیره.............. ۲۶
مترقي نظام.................................................. ۲۸
رسمونه او رواجونه........................................ ۳۰
تواضع از دیدگاه اسلام.................................. ۳۱
د اسلامي تمدن منځلایتوب.............................. ۳۳

سرلیک

# بِسْـــــــــمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيْـــمِ

الحمد لله وحده، صدق وعده، و نصرعبده، و اعزجنده، و هزم الاحزاب وحده، والصلاة والسلام على النبى الامى الذى تجلت الانسانية و اشرقت بنور الوحى المنزل عليه، وعلى آله واصحابه الغرالميامين الذين نشروا الدين وعلى من تبعهم باحسان الى يوم الدين امابعد:

الله تعالی د انسانانو لپاره داسې یو قانون رالیږلی چې د دوی له فطرت سره برابر دی او د دې قانون په پلي کولو سره یوه داسې انساني ټولنه جوړېږي چې له ټولو نیکو کړنو برخورداره او له ناوړه کړنو څخه پاکه وي ددې لپاره چې دا قانون وخت په وخت انسانانو ته تشریح او ورياد کړي، الله تعالی دې نړۍ ته خپل سپېڅلي استازي را استولي او هر وخت يې د الله تعالی پیغامونه وګړو ته بیان کړي او دا سلســـله زمونږ تر ورستي پيغمبر حضـــرت محمد مصـــطفی (صلى الله عليه وسلم) پورې جاري وه، چې کله رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دا دنده وسپارل شوه هغه مبارك په خورا زيار او کوښښ سره د الله پیغامونه انســـــانانو ته ورسول او د حجة الوداع په خطبه کې يې ټول مؤمنان درې کرته شاهدان وګرزول چې ما د الله تعالی راسپارل شوې دنده ترسره کړه او که نه؟ ټولو په یو غږ ځواب ورکړ: چې تاسو د خپلې دندې حق اداکړ او بیا يې دا مسؤلیت خپل امت ته وسپاره، او ورته يې فرمايل: چې آګاه اوسئ کوم کسان چې حاضر دي هغوی دې دا پیغام غايبينو ته ورسوي، او د دې امت د بهترۍ راز په همدې کې دی چې دوی د انبياؤ دنده ترســره کوې چې هغه د الله لور ته بلنه ده یا په نورو الفاظو ســـره هغه امر بالمعروف او نهی عن المنکر دی، د دې کار اهمیت موږ ته له دې خبرې را څرګنديږي چې الله تعالـی د ایمان له يادونـې څخه وړاندې د امـربالمعروف او نهـی عن المنکـر يادونه کوي الله تعالـی فـرمايـي: كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ (آل عمران ١١٠) ژباړه: اوس په نړۍ کې هغه غوره ډله تاسې یاست چې د انســانانو د لارښوونې او اصلاح لپاره رامنځته شوې تاسو د نېکيو امر کوئ او له بديو منع، او پر اللـه (ج) ايمان راوړئ. تاسو غوره امت یاست د خلکو لپاره را ایستلی شوي یئ په نېکيو امر کوی او له بدو څخه منعه کوئ او په الله تعالی ایمان راوړئ. په دې مذکور آیت شـریف کې امر کول او له بديو منعه کول له ایمان څخه ذکر شـــوي همدا راز کامیابي هم الله تعالی په امر بالمعروف کې ایښـــې ده الله تعالی د کامیابو او بریالیو مؤمنانو په اړه فرمايي: وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ سورة آل عمران (١٠٤)

ژباړه: په تاسو کې دې یوه ډله داســې وي چې هغه خلك د نیکۍ طرف ته رابلي او خلکو ته د نيکو کارونو حکم کوي او له بدو کارونو نه يې منع کوي، همدغه خلك بريالي دي. د انســانانو بریا په همدې کې ده چې دوی په نیکیو امروکړي او له بدو کړنو څخه خلك منع کړي او کومه ټولنه کې چې په نیکو کړنو امر کيږي او له بدو او ناوړه کړنو څخه منع کيږي هغه ټولنه په نړۍ کې یوه سالمه مهذبه او له فسـاد، غلا، رشوت، فحاشي، عرياني، غدر، زنا، لواطت، شراب خوري او انسان وژنې څخه پاکه ټولنه ګرځي او هلته وګړي په یوه ارامه فضاء کې خپل ژوند کوي او د هرچا حقه حقوق پکې خوندي پاته کيږي او الله تعالی په قرآنکريم کې فرمايي که چيرته مؤمنانو ته په ځمکه کې واك لاس ته ورشي دوی لمونځونه قايموي، زکاتونه ورکوي، او په نیکو امر کوي او له بدو څخه منعه کوي، دا د ټولو مسـلمانانو مسؤلیت دی چې په دې فریضـه کې خپله ونډه واخلي او خپل مسؤلیت ترسره کړي نو راځئ ددې سپیڅلي کاروان ملګري شو او یو بل جنت ته دعوت کړو او ددې مجلې (تقـــوا) یوازینی موخه همدا ده چې څنګه وکولای شو خپله ټولنه مو په اسلامي او نبوي اخلاقو ښایسته پیداشي.

**ومن الله التوفيق**

# پیام تبریکی هیئت رهبری وزارت امربالمعروف و نهی عن المنکر به مناسبت عید سعید فطر

هیئت رهبری وزارت امربالمعروف و نهی عن المنکر ضمن آرزوی قبولی طاعات و عبادات مؤمنان در ماه پرخیر و برکت رمضـــــــان، حلولِ عید سعید فطر را به تمام مسلمانان جهان، هم میهنان عزیز مردم شریف، متدین و مسلمان افغانستان تبریک و تهنیت عرض می نماید.

به برکت این بهار قرآنی با اجرای دســـتورات الهی و پیوند با معارف و مناســـک نورانی به ویژه در شـــب های قدر، تجربهٔ جدیدی از عبادت در شرایط سخت تر و اشتیاق خالصانهٔ خود را به ارزش های دینی، معنوی و معارف الهی به شکل زیباتر و تأثیر گذارتر از پیش، آشکار ساختند. در این ماه غفران درهای رحمت الهی بیش از هرزمان دیگر بر روی بندگان گشوده شد. خداوند تعالی را سپاسگزاریم که بعد از ختم دو دهه اشغال کشور، فرصت دیگری اعطأ فرمود تارمضـان دیگر را زیر چتر امارت اسلامی سربه سجده گذاریم و دست دعا بسوی عرش ملکوتیش بلند نموده طلب رحمت نماییم تا در پناه قرب حضرتش مسیر رستگاری را بپیماییم. اکنون که کشـور ما در برابر فشـــارها و دسایس دشمنان قرار دارد، بیش از هرزمان دیگری به پیام های سازندهٔ ماه رمضـــــان نیاز است. بی تردید در سایهٔ رهنمودها و توصیه های وزارت امربالمعروف، همانا اتحاد و همدلی است که میتوان به خوبی از این مشـــــکلات عبور کرد، عزت و سربلندی ملت افغانستان را در سطح جهان به نمایش گذاشت.

هموطنان عزیز؛ عید سعید فطر، پس از یکماه بندگی و روزه داری در حقیقت جشن پاداش نیایش خالصـانهٔ مؤمنان است، به همین لحاظ از تمام ثروت مندان، تجاران و مؤمنان خیراندیش صمیمانه خواهشمندیم که با دادن صدقات فطر شان دست فقراء و مساکین را بگیرند زیرا که دین مقدس اسلام پیام آور سخاوت و کمک به نیازمندان است. بدینوسیله هیئت رهبری وزارت امربالمعروف و نهی عن المنکر این عید را به کافهٔ ملت غیور و مسلمان تبریک گفته و از بارگاه رب العزت برای کشور عزیز مان امنیت، صلح دایمی ورفاه و آسایش می طلبد.

هیئت رهبری وزارت امربالمعروف،

نهی عن المنکر و سمع شکایات

# له مدرسو تر پوهنتونونو د فکري او تطبیقي بدلون اړتیا

فاطمه حجاز

دا یو لوی حقیقت دی او سترگې نشو ورڅخه پټولی، چې په افغانستان کې د هر استعمارگر او اشغالگر پر وړاندې، د اسلام او ناموس د دفاع او مقابلې ناره له مدرسو څخه اوچته شوې ده. د مدرسو شاگردان وو چې افغانستان یې د امپراتوریو پر هدیره بدل کړ او په دغه هېواد کې یې د هر اشغال گر هیلې خاورې کړې. ټینگ او نه ماتېدونکی ایمان، له دین او ناموس څخه د دفاع او ساتنې روحیه، غیرت او مېړانه، جهاد او مبارزه، له پردي کلتور او فکر څخه کرکه او لیرې والی د افغانانو په ضمیر کې ریښې لري. تر ډېره حده دا هغه اسباب او عوامل وو چې افغانان یې په هېواد کې د پردي واک او پردي فکر له منلو څخه ایسارول. دغه خبره استعمارگرانو او اشغالگرو هم په ښه توگه درک کړې وه، نو د دې لپاره چې افغانان خپل اصلیت وبایلي او یا د استعمارگرانو رنگ خپل کړي، په هېواد کې یې د سیکولر او ډیموکرات نسل د روزلو لپاره هڅې پیل کړلې. مکتب او پوهنتون د دغې چارې په ترسره کولو کې یوه بریالۍ تگلاره وه، ځکه د مکاتبو نصاب داسې جوړ کړل شوی و چې ماشوم له دین سره دلچسپي، د پردیو پر وړاندې حساسیت او په ټولنه کې په اسلامي اصولو ولاړ فکر او احساس ونلري؛ له همدې کبله په تېرو څو کلونو کې د افغانستان تعلیمي نصاب درې ځلې بدل شو. پوهنتونونو پردي اصول او افکار لا پاخه کړل او تحصیلي بورسونو د ځوان نسل په ذهنونو کې له اسلامي فکر او عقیدې څخه د فاصلې او بغاوت نور زړي وکرل.

سره له دې چې هر اشغال دلته له نظامي ماتې سره مخ شوی دی، خو موږ هېڅکله هم د اشغالگرو فکر مات نشوای کړی، ځکه خو د هر اشغال فکري پاتې شوني لا هم په هېواد کې شتون لري. موږ یواځې له هېواد څخه د دښمن د شړلو په فکر کې وو، تل مو دا له پامه غورځولې چې د دښمن له فکر سره هم باید په فکر مبارزه وکړو. نن چې په هېواد کې د امریکا او ناټو د اشغال لمن ورټوله شوې ده، د دې وخت رارسېدلی چې د مدارسو او مکاتبو تر منځ رامنځته شوې فاصله له منځه یوړل شي او دغه بنسټونه چې په ملیونونو ماشومان درس پکې وایي، په خپلو اصولو یې ودان او د خپل فکر اصول او مفاهیم په کې تدریس کړو.

موږ اوسمهال نسبت روغتون، کارخانې، مدرسې، فابریکې... ته د ښوونځیو او پوهنتونونو جوړولو ته ډېر ضرورت لرو، ځکه په هغه تعداد ماشومان چې ښوونځي ته ځي جومات ته نه ځي او په هغه تعداد ځوانان چې پوهنتون ته ځي مدرسې ته نه ځي. که چېرې د ټولنې د دغه لوی او مهم قشر فکري روزنې ته پاملرنه وکړو؛ جومات، روغتون، کارخانه، فابریکه... به خپله راجوړ شي.

متاسفانه ځینې په مدرسو کې روزل شوي ذهنیتونه د مکاتبو او پوهنتونونو پر وړاندې حساسیت ښیي، په پوهنتونونو د بطلان کرښه راکاږي، د انټرنټ او نوي ټکنالوژۍ استعمال د اسلام خلاف گڼي، شاگردانو او محصلینو ته چې د فکري جگړې قربانیان دي؛ د سیکولرانو په سترگه گوري، د خلکو په اړه قضاوت د تقوی په رڼا کې کوي او تر ډېره حده هغه خلکو ته په مشکوک نظر گوري چې د دوی په شان تونده لارې او سخت دریځه کړنلاره ونلري. دغه ډول توندلاري ذهنیتونه او په دې ذهنیتونو ولاړې مدرسې نه یوازې دا چې په هېواد کې د اسلامي ویښتابه او فکري بېدارۍ لپاره د پام وړ څه نشي ترسره کولای بلکې دغه هڅې لاکمزورې او کم رنگه کولی هم شي، ځکه دوی پخپلو توندلارو او سخت دریځه کړنو سره خلک او په ځانگړې توگه ځوان نسل له اسلامي عقایدو او ارزښتونو څخه بېزاره کولی شي.

لکه څرنگه چې د ټولنې ډېرې وگړي له فکري کشمکشونو سره لاس او گرېوان دي، او هر وارد شوي فکر او نظریې پر دوی خپل خپل تاثیرات او اغېزې پرې ایښې دي؛ دا به دوی ته ډېره گرانه وي چې حقیقي اسلام له افراطي او تفریطي اسلام څخه بېل کړي. موږ نشو کولی چې د بشري پرمختگ او نوي ټکنالوژۍ پر وړاندې مورچل ونیسو، بلکې معقوله خبره دا ده چې د غرب لخوا د فکري جگړې په ډگرونو کې استعمالیدونکي وسایل، اداري، مراکز او تگلارې باید بېرته د دوی پر خلاف او د اسلامي عقیدې او فکر د خپراوي لپاره وکاروو، ځکه دا به دومره تاثیر ونلري چې یو څه له منځه یوسو خو په بدیل کې یې کوم بل څه ټولنې ته وړاندې نکړو.

ليکنه او ترتيب: مجاهد خواجه

# د داعي ځانګړتياوې

اګـر چـې د دعوت د کاروان هـر غـړی په دې مکلف نه دی چې په هر اړخ د پوهې او معرفت کې پوره رسـيدلی وي ځکه دا ډول غوښـــتنه يوازې سخته بلکې نا شونې.

خو ولې هر دعوتګر بايد د قرآنکريم په تلاوت، تجويد او تفسير باندې پوه وي او د حديثو علومو ته بايد لاس رســـی ولري له نبوي ســـيرت ، د صحابوو د ژوند او د اسلام د سترو شخصـياتو په اړه بايد کافـي معلومات ولـري ځکه د همدوی کړنلاره په حقيقت کې عملي درسونه او تجربې دي چې د همدې له منځ نه دعوتګر خپل بيلګه توب لاس ته راوړی شي تر څو بيا په ده پســـې خلك ولاړ شـــي او پيروي يې وکړي. په فقهي مسائلو کې هم بايد دوره معلومات ولري چې د هغو پر بنسټ عبادات او معاملات سم کړي. کيدای شـي دوره يې په توان کې نه وي چې د قران ،ســنت ،ســيرت او فقهې د علمونو په ټولو برخو کې تبحر او تخصص ترلاسه کړي. خوولې تاکيدا بايد پوه شي چې دا علوم د هر مسـلمان لپاره د اســــلامي احکامو مرجع ده او دا هم ضروري ده چې کومې قضــــيې چې د دين د ضروري برخو او اســاســاتو نه دي بايد پرې پوه شي او د تطبيق صورت يې وپيژني .

داعي بايد اســلام له اصــلي معيارونو څخه را واخلي لومړی په خپله تمثيل کـړي بيا يـې نورو ته نقل کي يعني بايد پوه شـــي چې اســلام يو کامل او شــامل دين دی د ژوند په ټولو اړخونو کې شــامل دی، هم عقيده ده او هم صــحيح عبادت، هم دولت دی او هم وطن، هم حکومت دی او هم امت، هم اخلاق دی هم قـــوت، هم رحمت دی هم عدالت، هم فـرهنګ دی او هم قانون، هم علم دی هم قضــاء ، اسلام چې هيڅ ډول تجزيه نه قبلوي او دعوتګر د اسلام د اجزاؤ تر منځ جدايي نه پيژني.

اسلام سـترګو، غوږونو او زړونو ته سخته پاملرنه کوي. داســـې ټولنه چې د هر ډول وهمونو او ګومانونو څخه پاکه وي د بـــيهوده ګـــيو او ســادتوبونو څخه لوړه وي، د الله تعالی کتاب او د رسول الله سنت پرې حاکم وي نه بې معنی او بې مفهومه رســــمونه او رواجونه چې د الله تعالی له پلوه پرې کوم دليل موجود نه وي .

*وَمَا لَهُمْ بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِنْ يَتَّبِعُـــونَ إِلاَّ الظَّنَّ وَإِنَّ الظَّنَّ لا يُغْنِي مِنْ الْحَقِّ شَيْئًا* (النجم/ ۲۸)

" د دوی ســره په دې (خپله خبره ) باندې هيڅ علم، پيروي نه کوي مګر د ګمان او يقينا چې ګمان د يو شي د حقيقت پيژاندلو ته هيڅ فائده نه ور کوي "

د اسلامي شريعت احکام د قرآن او سـنت څخه

اخیســـتل شوي په کوم ځای کې چې نص موجود وي هلته اجتهاد روا نه دی. همدا ډول (مصـــالح معمول بها ) چې د شریعت د قواعدو ســـره ټکر نه خوري عمل به پرې کیږي او دا مصـــالح او احکام د ظروفو، د هرې منطقې د عرف او عادت په بدلون سره بدلیږي .

پرته د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه د هر چا اجتهاد د منلو او ردولو وړ دی، کوم اقوال او اجتهادات چې د سلف صالحینو څخه رانقل دي که د کتاب الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنت سره موافق قبلوو به یې او که موافق نه ؤ نو د الله تعالی کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت ډیر غوره دي چې عمل پرې وشي .

هر مسلمان چې د شرعي احکامو په دلائلو کې د نظر او ترجیح درجې ته نه وي رسیدلی کولی شي چې د دین د امامانو څخه د یوه امام پیروي وکړي او غوره دا ده چې پیروي سره سره د خپل توان مطابق کوښښ وکړي چې د خپل امام دلائل وپیژني .

د هغه چا لارښوونه چې صداقت او کفایت یې ورته ثابت وي په دې شرط چې دلیل پرې ولري باید قبوله کړي، په دې طریقې سره باید خپلې نیمګړتیاوې مکمل کړي که عالم وي تر څو خپل ځان د ترجیح او تحقیق درجې ته ورسوي .

فقهي او فروعي اختلافات باید هیڅکله په دین کې د تفرقې لامل جوړ نه شي او په هیڅ صورت کې باید په جګړو، دښمنیو او کینو سره بدل نه شي.

په هغه مسئله کې چې عمل کول پرې بنا نه وي بحث کول او په کې مصروف کیدل هغه تکلف او جدل دی چې شرعا ترې منع شوي یو تر څو زمونږ د صفونو یووالی خوندي پاتې شي عقلونه مو په ضرري اختلافي مسائلو کې د مشغول کیدو نه په امان کې پاتې شي.

د الله تعالی پیژندنه، توحید او د هغه پاك ګڼل د هر ډول نقص او تشبیه څخه، په اسلام کې د لوړو عقائدو څخه دي د متشابه صفاتو په آیتونو او په دې اړه چې کوم صحیح احادیث راغلي پرته له تاویل، تعطیل او تمثیل څخه ایمان لرو او په دې اړه چې د علماؤ تر منځ کوم اختلافات راغلي په هغو کې لاس نه وهو .

عقیده د عمل اساس او بنسټ دی د زړه عمل د جوارحو له عمل څخه غوره دی او په دواړو (عقیده او عمل ) کې د کمال درجه ترلاسه کول شرعا مطلوب دي.

اسلام عقل ازاد پریښی او په کائناتو کې دقت او فکر کولو ته یې هڅولی او هیڅکله به درست او علمي حقائق د شرعي ثابتو قواعدو سره ټکر نه شي . هغه مسلمان چې په شهادتینو یې اقرار کړی او په غوښتنو یې عمل کړی کافر نه ګڼو ځکه دا هغه اصول دي چې د اهل سنت والجماعت په خپلو کتابونو کې ذکر کړي. د عوتګر باید کړي، تطبیق یې کړي او نورو ته یې ورسوي. د دعوتګر باید پوه شي چې اسلامي کار او فعالیت په یوه غـړي یا یوه تنظیم او ډله پورې خاص نه دی بلکې دا د هر یوه مسلمان ځانګړتیا او دنده ده که تر هر یوه نوم لاندې وي که په هر هیواد کې ژوند کوي او که د هر یوه توکم سره تړلی وي.

### د دعوتګر ځانګړتیاوې

**۱: اخلاص:** د اخلاص نښه داده چې که چیرې یو څوک د خپلې خوښې سره سم کار کوي اړیسي چې دا کار په کومه بلې طریقې سره البته چې جایز وي ترسره کړي. نو بیا هم خوښ وي چې ښه شو چې دا کار تر سره شو، خو که دخپلې خوښې پرته په بله طریقه کار ورته ستونزمن شي او وایي چې دا کار ولې په دې طریقه کوم نو دا د نه اخلاص نښه ده. له دې څخه دا څرګندیږي چې موږ د دنیا لپاره کار کوو چې البته دغه حالت د اصلاح کولو وړ دي.

داهغه ناروغي ده چې ښه عملونه دمنلو وړنه ګڼي نو له درنو مبلغینو څخه هیله کیږي چې خپله هره وینا او لیکنه په خلوص او اخلاص سره وړاندې کړي ځکه یو عمل چې د اخلاص سره مل وي، که هر څومره لږ هم وي ډیر دنیوي او اخروي ثمرې لري خو له اخلاص نه پرته نه په دنیا کې کوم اثر لري او نه په اخرت کې کوم اجر .

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

*اِنَ اللّهَ لَایَنْظُرُ اِلـــی صُوَرِکُمْ وَ اَمْوَالِکُمْ وَلَکِنْ یَنْظُرُ اِلَی قُلُوبِکُمْ وَ اَمْوَالِکُم*

)ژباړه(: خدای تعالی ﷻ ستاسو صورتونو او مالونو ته نه ګوري، بلکې ستاسې زړونو او عملونو ته ګوري.

په یو بل حدیث شریف کې راغلي دي چې یو چا له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې ایمان څه ته وایي؟

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل ایمان اخلاص ته وایي.

همدا راز په یو بل حدیث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ معاذرضی الله عنه د یمن حاکم وټاکه، هغه د رسول الله ﷺ څخه د لږ نصیحت هیله وکړه رسول ﷺ ورته وفرمایل: د دین په کارونو کې له اخلاص څخه کار اخله، ځکه لږ عمل چې په اخلاص سره وي کفایت کوي په یو بل حدیث شریف کې راغلي دي چې الله ﷻ فرمایي:

((زه دټولو شریکانو له شرکت څخه بې پروا یم

(په دنیا کې خلک دشریکانو په شرکت باندې راضـــي وي ، خو زه خلاق على الاطلاق يم له هرشـــي څخه بې پروا يم او په عبادت کې د بل چا شـــــرکت ته هيڅ اړتيا نه لرم)) څوک چې داسې عمل وکړي چې پۀ هغۀ کې زما سـره بل څوک هم شـــريک کړي نو زه هغه کس د هغۀ شــــريک ته پريږدم بل روايت کې دي چې له څخه بې زاره کيـږم.په يو بل حديث کـې راغلي دي دقيامت په ورځ به دحشـــــر په ميدان کې يو آواز کوونکی په لوړ آواز سره ووايي ، چا چې په کوم عمل کې د لوی څښـتن تعالی ﷻ سره کوم بل څوک شـريک کړی وي . دهغه کار ثواب او عوض دې له هغه څخه وغواړي.

خدای ﷻ دټولو شـريکانو له شـرکت څخه بې پروا دی .له دې امله مهمه او اړينه خبـر ده چـې درانه مبلغين په خپلو ټولو کارونو کـې دالله ﷻ رضا د دين خپراوی او درسول الله ﷺ دسـنتو اتباع خپله موخه وګرځوي.

شهرت ، عزت او سـتاينې  ته په زړه کې هيڅ که چيرې مو يو خت د دې شيانو خيال په زړه کې در وګرځي نو د لاحول او اسـتغفار په ويلو سـره يې اصـــلاح کړئ .دعوتګر يا داعي نه بايد يوازې دالله ﷻ په لاره کـې مخلص وي بلکـې له عامو مسلمانو سره هم مخلص او اخلاصمند وي .دهغو سره بايد دزړه له تله مينه او خواخوږي ولري ، تل بايد دهغو دڅوړنې په فکر کې اوسي .

دا پيرزوينه يې بايد دومره واضــــح وي چې د ده هره خبره که په هر څومره سخته لهجه سره هم وي خو بيا يې هم مسلمان دځان لپاره خيرو ګڼي او په دې په بشپړه توګه ډاډه وي او باور ولري چې ده ته نصيحت کوونکی سړی د ده دخير خبرې کوي ، الله تعالی ﷻ دې مونږ ټول په داسې اخلاص او خير غوښتنه وپسولي .

**۲: صحيح علم تر لاسه کول:**

دعوتګر ته ضروري ده چې د اسلامي علومو له نعمت څخه په بشپړه توګه برخمن وي . د اسلام د دين داحکامو او اوامـــرو اونواهيو په هکله بايد دومره تر لاســـه کړی وي چې په هره مرحله کې صحيح لارښـوونه وکړای شـي . که نه نو لږ تر لږه خو بايد د هغو خبرو په هکله صــحيح علم ولري چې خلکو ته يې بلنه ورکوي. که چيرې داعـي د اړتيا وړ مسايلو په باب صحيح علم حاصل نه وي نو به د(نيکي برباد،ګناه لازم) مصـــداق شي . او د دعوت په شان مهمه دنده به په صحيح معنا ترسره نه شـــي . بلکې د مخاطبينو او په خپله د داعي د ګناهګاره کيدلو او ګمراه کيدلو انديښنه به وي له دې امله رسول الله ﷺ فرمايلي دي طلب العلم فريضة على كل مسلم *ژباړه: دعلم زده کړه په هر نارينه اوښــځينه باندې فرض دی .ځکه نو پر هر مسلمان باندې لږ تر لږه د ورځنيو چارو او مسايلو علم تر لاسه کول اړين شي .

**۳ــ صبر اوتحمل:**

څښتن تعالی ﷻ فرمايلي دي:

وَالْكَظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَاسِ وَاللَّهُ يُحِبُ الْمُحْسِنِين

ژباړه : او هغه چې غوصـــــــــــه زغمونکي او دخلکوله )بدئ او لنډ پارئ څخه  (تيريدونکـي او )ببښــونکي (دي.  داسې نيکان خلک دخدای تعالی ﷻ ډير خوښ دي .

د داعي يا دعوتګر يو اصلي صفت صبر او تحمل (زغم)  هم دی .ددې پرته هيڅوک د دعوت په شان درنه دنده نه شي تر سره کولای .

داصلاح او دعوت ستر کارکوونکی بايد ډير صبر او تحمل ولري .تاسې پام وکړئ چې پۀ قرانکريم کې چې خدای تعالی ﷻ دانبياوو ﷺ يادونه کړې ده له هغو څخه زياتو يې دپســـونو او وزو شپنې کړې ده خپله زمونږ ستر داعي او لارښود نبي ﷺ هم په وړکتوب کې وزې پوولې دي .

غالباً په دې کې دا راز او حکمت دی چې وزې او وزګوړي کمزوري څاروي دي . که يوه وزه په لرګي په زوره ووهل شـــي نو دهغې ژوندي پاتې کيدل مشـــکل دي ددې ترڅنګ که هغه خپل سرته پريښـودل شي نو اخوادېخواته ډيرې منډې وهـي . نو که دا دواړه حقيقتونه په پام کـې ونيول شـي او د وزو او وزګړو درمې هکله فکروکړئ کله چې ډيـرې وزې او وزګوړي يوځای وي نو يوه وزه يوې خواته منډې وهي او بله بلې خواته او شـپون له لرګي سـره په غوصـه باندې له هغو پسې منډې وهي کله چې يوې وزې ته ورسيږي او لرګی پرې پورته کړي نو ته دا فکـر پيداکيږي چې د يو لرګي په وهلو ســــــــــره د وزې کار خلاصـيږي . په دې هغه خپله غوصـــه تر واک لاندې راولي او په ډير نرمښـــت سره هغه درمې خواته  وروليي او شپون خپله غوصه کنټرولوي او په دې ډول سره هغه دصبر او زغم سـره عادت پيداکوي .

ځرنګه چې انبياء عليهم الســـــلام هم د دعوت ، روزنې ، اصلاح او تزکيې د سـترو دندو تر سـره کولو ته ګمارل کيدل ، ځکه نو غالباً دصبر او زغم او نزاکتونو سـره دعادې کيدو لپاره هغو ته دعمر په لومړيو وختونو کې د وزو دپولو او ښپنې دنده هم ور په برخه شـوې ده . والله اعلم له دې څخه ځرګنديـږي چې تبليغ کوونکـی بايد بيـړه ونه کړي ، بلکې کار بايد په ارامئ او سره سينه سـره ترسـره کړي او که چيرې دخپل زيار پايلې ژر تر ژره ورته ځرګندې نه شـي . نو خوابدی کيږي دې نه او نه دې نهيلی کيږي . بلکې په هيله دې اوسـي او په پرلپسـې توګه دې خپل کار او زيار ته ادامه ورکړي .

که داعــــــي دخپل دعوت په وړاندې دکوم چا عناد ، حسد ، نيت بدې او ضديت ووينې او دده د تبليغ او بلنه نه منـي ، نو متاثـــر کيـږي دې نه ، دزړونو دکوم خالق په قدرت کـې چـې ژوند او مرګ دی هغه دزړه کينه او مخالفت هم ايســـته

کولای شي په حديث شريف کې راغلي دي چې يو سړی د دوږخياتو عملونه تر سره کوي تر دې اندازې پورې چې د يوې لويشتې په اندازه فاصله دده او د دوزخ ترمينځ پاتې شي. مگر دخدای تعالی ﷻ تقدير غلبه مومي. او هغه د جنتيانو کارونه پيلوي او جنتي کيږي.

ښايي داسې عنادگر هم بالاخره له عناد او ضديته لاس واخلي بيا نو هيڅکله مه مايوسه کيږئ او ديو ځا په اړه هم اسانه خبره نه ده چې په قطعي توگه وويل شي چې هغه عناد کوي. په دې اړه تجربې او ژور بصيرت ته اړتيا ده. البته که چيرې کوم څوک دعناد او ځينو نورو مسايلو له مخې د کوم دعوت گر خبرې نه مني بياهم دده له دعوت او تبليغ څخه هرومرو نورو ته گټه رسيږي. ځکه که نور کسان د ضد کوونکي کس په شان په ناوړه کار اخته وي او د تبليغ کوونکي دعوت ور ورسيږي نو د امر او نهي حقانيت اغيزه پرې کوي او له ناوړه کار څخه لاس اخلي.

پر دې سربيره دا خبره هم د يادولو وړ ده چې دعوتگر د خلکو له خوا د دعوت دقبلولو يا نه قبلولو په اړه هيڅ مسؤليت نه لري. د داعي دنده يوازې دعوت ده او بايد په دې آند او نيت وي چې دعوت ته اړتيا ده هر څومره چې ډيرو خلکوته د خير کلمه ورسوم په اندازه د لوی څښتن تعالی ﷻ رضا تر لاسه کيږي او په دې لار کې په کړاوونو او مصيبتونو باندې د زيات اجر او ثواب ژمنه شوېده او دا ټولې خبرې ربښتيا دي څو که چيرې ددې ټولو خبرو سره سره د دعوت دقبليدو نيکمرغي هم تر لاسه شي دراتلونکي گټې سره سره به اوسنی گټه هم تر لاسه شوې وي. مگر اصلي مقصد بايد راتلونکې گټه وي چې هغه هرومرو تر لاسه کيږي. که د دعوتگر دعوت څوک ونه مني نو د خالق ﷻ دقبلولو ژمنه بلکل ربښتيا ده. البته يوه خبره ډيره دپاملرنې وړ ده او هغه داچې د حق دخبرې وړاندې کول په داسې ډول او داسې ځای کې نه وي چې له امله يې د ايمان خاوندانو په نظر کې دحق کليمه سپکه ځرگنده شي او هغوی په سپکه ورته گوري له دې امله دعوت کې ښه او غوره اسلوب غوره کول او موقع پيژندل زښته زياته اړينه باله شي.

**۴ـ دخبرو ښه طرز:**

دانسان د ژبې خوږوالی د مخاطب کولو غوره انداز او خبرو کولو ښه طرز دهغه په مخاطب باندې ډيره ښه اغيزه کوي.

که آواز خوږ او لهجه خوندوره وي نو تر مخالف کس لا مخالف هم خبره اوري او بې له اغيزې نه پاتې کيږي. خو ددې پر خلاف که چيرته لهجه تونده او تريخه وي او الفاظ يې بې خونده وي. نو ان خپلوان لاهم ليرې ترې تښتي ځکه داعي ته ښايي چې خپله لهجه خوږه او الفاظ نرم او خوندور کړي.بې له اړتيا په جوش رانه شي او چيغې ونه وهي.

په خپله درسول الله ﷺ لهجه ډيره نرمه او خوږه وه او آواز يې نه ډير لوړ و نه ډير ښکته بلکې ددې دواړو ترمينځ واو دومره خوږ و چې اوريدونکي به بې له اغيزمن کيدو نه پاته کيدل ام معبد رضی الله عنها څومره په جامع الفاظو د رسول الله ﷺ دخبرو طرز بيان کړی دی الفاظ يې نه تر اړتيا زيات نه کم و. نه يې دومره لنډې خبرې کولې چې څوک به نه پرې پوهيده او نه شي ډيرې اوږدې خبرې کولې، د رسول الله ﷺ په آواز کې به د اړتيا سره سم لوړوالی او ټيټوالی و، په خبرو کې به يې هيڅ نوعه تصنع اوتکلف نه و. بلکې خبرې به يې په ډيرې سادگۍ سره کولې او موسکا به يې دخبرو سره مل وه، کله به يې چې دخبرو په بهير کې په کومه خبره باندې ټينگار کاوو نو له هغه شي څخه چې تکيه به يې پرې کړې وه پورته شو او سيده به کيناسته او هغه خبرې به يې وکړې، د خپلو خبرو دڅرگندولو لپاره به يې د لاسونو دگوتو له اشارې څخه مرسته اخيسته او دتعجب په وختونو کې به يې ورغوی موښی.

**۵ـ ښه رويه:**

د بلونکي لپاره تر ټولو اړينه داده چې د نورو تر روزلو دمخه لومړی خپل ځان ښه تربيه کړي، له ناوړه عادتونو څخه د نورو تر ژغورلو دمخه لومړی خپل ځان له بدو عادتونو څخه وساتي، ځکه چې دانسان خپله کړنه دنورو لپاره د هڅوونې لامل گرځي او ژوره اغيزه وربانديې کوي دانسان کړنه او رويه ديوه پټ خولي مبلغ يا مربي حيثيت لري.

رسول الله ﷺ چې خپل اصحاب کرام رضی الله عنهم په ځانگړې او غوره روزنې سره روزلي وه په هغې کې تر ټولو ډيره مهمه ونډه درسول الله ﷺ ښې رويې درلوده.

که دبلونکي په قول او فعل کې تضاد وي نو دهغه ټولې هڅې بې ځايه ځي څو که دهغه په خبره او کړنه کې يو شانته والی وي نو دهغه ډير معمولي کوښښ هم ډيرې سترې پايلې لري، د خپلې رويې د سمولو طريقه داده چې د اهل العلم ربښتيني عارف بالله سره اړيکې ونيسئ او دهغه خدمت ته حاضر شئ او د ځان د اصلاح کولو لپاره فکر وکړئ، د الله ﷻ د دوستانو سره اړيکې ټينگول، د هغو خدمت ته حاضريدل، د دين دچارو د سمون او د خير او برکت لامل گرځي.

ومن الله التوفيق

# خط فاصل بین مسجد تقوا ومسجد ضرار

دکتر نور محمد امراء

فقدان سیادت در جوامع بشری وچیره شدن هویت سلطه غالب، باعث می شود شناسه های هویتی ملت های دربند اسارت به حاشیه رود وهویت های کاذبی در جوامع عقب مانده قد علم کند وحرکت نخبه گرایی امت مغلوب شیفته امت غالب شود، قدرت ونیروی او برهانی بر حقانیت ترشحات فکری ومنظومه اخلاقی او گردد. بنگریم به عنوان فصل ۲۳ مقدمه ابن خلدون: في أن المغلوب مولع أبداً بتقليد الغالب في شعاره وزيه ونحلته وسائر أحواله وعوائده. ملت های شکست خورده شیفته تقلید ملت های غالب می شوند؛ در هویت، شکل وقیافه، پوشاک وسایر احوال وتصرفات شان. در سایه معیارهای فرهنگی یی که امت چیره دست می گذارد مفاهیم وارزش های هویتی ملت های مغلوب توسط نخبگان همین ملت ها که دچار خودباختگی وذوبان هویتی شده اند بار دیگر مورد بحث وکنکاش قرار می گیرد وچه بسا با گذرزمان هویت امت مغلوب بکلی منقرض شود و یا مورد تغییر وتحولات ریشه ای قرار گیرد. ما از فرهنگ ها وهویت های بسیاری در صفحات تاریخ می شنویم که بنا به دلایلی از جمله چیرگی هویت غالب بکلی مندرس شده اند. هویت اسلامی که نزدیک به ۱۳۰۰ سال در سطح هویت برتر وغالب جهانی با وجود جذر ومدهای داخلی پراگنده قدرت نمایی می کرد، چون سیادت خود را به یکباره در تمام گیتی از دست داد، دچار سردرگمی در شیوه عرض اندام خود در فضای کاملاً بیگانه فاقد سیادت جدید شد. هویت های چیره چون اسلام را به عنوان سرسخت ترین رقیب می نگریستند با استفاده از تمامی ابزارهای قدرت تلاش کردند تا اسلام را بکلی ریشه کن سازند. اما پتانسیل داخلی اسلام در ثبات مصادر هویتی آن ـ قرآن وسنت وشدت انسجام تاروپود روابط اجتماعی و ویژگی بار مسئولیت فردی در "امر به معروف ونهی ازمنکر" وروح انقلابی ستیز با مستبد، باعث شد طوفان های هویتی تنها مدت زمانی در فضای اسلامی رعد وبرقی براه اندازند و با گذرزمان کهنه شده، از مد خارج شوند ونخبگان اسلامی که در آن برهۀ اززمان دررکاب هویت مهاجم قدعلم می کردند، بکلی به فراموشی سپرده می شدند و یا مضحکه نسل جدیدتر می گشتند وتمام تلاش های آن ها که روزی علمی و آکادیمی تلقی می شد در همان گورستانی که هویت مهاجم دفن می شد، آن ها نیز به خاک سپرده می شدند!..

بطور مثال: قرن پیش؛ چون ترشحات فکری داروین به عنوان نهایت پژوهش های علمی و آکادمی به کرسی صدارت نشانده شد، بسیاری از نخبگان اسلامی توان مقاومت در مقابل این طوفان سلطه چیره دست را نداشتند واشخاصی چون طنطاوی جوهری (۱۲۸۷ـ۱۳۵۸ق) نویسنده کتاب "الجواهر فی تفسیر القرآن" که از علما و از شخصیت های علمی مطرح روز بود تلاش داشت در مقالات علمی خود موج داروینی را نشانه ای از قدرت های الهی معرفی کند وبین آن و قرآن هیچگونه تضادی نیابد، با چیره شدن قشون فرانسه وانگلیس بر منطقه و بالا آمدن فرهنگ اروپایی مفاهیمی چون: لیبرالیزم، آزادی، دموکراسی، علمانیت وقومگرایی توسط افرادی چون ادیب مسیحی لبنانی؛ بطرس بستانی (۱۸۱۹ - ۱۸۸۳م) در لبنان وفیسلوف مصری احمد لطفی السید (۱۸۷۲ـ۱۹۶۳ م) وارد منطقه شود وشخصیت هایی به حجم امام محمد عبده (۱۲۶۶ـ۱۳۲۳ هـ ق) وجمال الدین افغانی (۱۳۱۴-۱۲۵۴ق) تلاش کنند به گونه ای بین فرهنگ اروپایی غالب وفرهنگ اسلامی؛ نوعی انسجام وخویشاوندی برقرار کنند. بدین گمان که اگر تجربه پروتستانتی غرب را بر اسلام تحمیل کنیم ما نیز چون اروپا پیشرفت خواهیم کرد! تلاشی بی ثمر برای پوشاندن لباس تجربه تاریخی فرهنگی متباین بر هویت کاملاً متفاوت در برهه زمانی وجغرافیای مختلف! (نقطه همسنگ رهبران سیاسی که گمان می بردند عامل تخلف ما پوشیدن حجاب وعمامه بجای کلاه است)!!.

در این برهه شاهد نخبگانی بودیم که مفاهیم وارداتی هویت غالب را در قالب های هویت اسلامی جایگزین می کردند؛ مثلاً: اجماع فقه ها را با افکار عمومی یا رأی العام وشورای اسلامی را با دموکراسی وانتخابات مترادف معرفی می کردند! مدتی نگذشته بود که سوسیالیزم ـ اشتراکیت با شعار مساوات وبرچیدن ملکیت خاص وبرپایی ملکیت عمومی متولد شد تا طبقه کارگر را به نان ونوایی برساند وثروت انبار شده را از دست برجوازی ها که کارخانجات را در اختیار دارند بگیرد. این نظریه کارل مارکس (۱۸۱۸- ۱۸۸۳ م) بر خلاف آنچه تصور می کرد در آمریکا واروپا با درصد بالای برجوازیت وسرمایه داری انعکاس چشم گیری نیافت ودر

کشورهای فقیر چون: چین و روسیه پیاده شد ودر نتیجه آن بر فقر وبدبختی کارگر افزود ومفاهیم حقوق انسان وآزادی بکلی برچیده شد وداس وچکش بجای کارآفرینی ورفاه کارگر بر گردن او چیره گشت. این طوفان نیز بسیاری از نخبگان ما را درنوردید. افرادی با قامت های بلندی چون عبدالحمید جودت السحار (۱۹۱۳ـ ۱۹۷٤ م) حضرت ابوذر غفاری (رض) را اولین اشتراکی در اسلام معرفی کردند که با نظام سرمایه داری می جنگید! ودانشمند نامدار چون دکتر مصطفی سباعی (۱۹۱۵ـ ۱۹٦٤ م) کتابش "اشتراكية الاسلام" را به رشته تحریر درآورد ودر مقدمه کتابش درردعلمایی که به ایشان گفته بودند که این یک موجی است چون سایر ترشحات فکری انسانی بزودی برچیده می شود وشایسته نیست که چنین عنوانی را برای کتابش انتخاب کند، می گوید؛ مفکوره عدالت خواهی هرگز از میان انسان ها برچیده نمی شود.. در این مرحله تلاش می شود مفاهیم اشتراکیت را با قوانین زکات وکفارات وعقوبات اسلامی همردیف ساخت. درست همان چیزی که امروزه در لباس لیبرالیزم وعلمانیت ودمکراسی با طعم مسلمانی با پررنگ کردن مفاهیم آزادی، تنوع فرهنگ ها، سلطه بی انتهای حکومت، در کنار کم رنگ کردن مفهوم "امر به معروف ونهی از منکر"، وعدم اطاعت ازمخلوق در نافرمانی از خالق وپنهان کردن هر آنچه با لباس وارداتی پرزرق وبرق تعارض دارد!

تمام این سردرگمی که تلاش دارد به گونه ای صورت مسأله را پاک کند، برمی گردد به محور "حاکمیت وسیادت"؛ آیا سیادت ورهبری وحق قانونگذاری از آن دین است یا دولت؟!، امام ابوحامی غزالی در کتاب احیاء علوم الدین می فرمایند: "والملك والدين توأمان فالدين أصل والسلطان حارس، وما لا أصل له فمهدوم وما لا حارس له فضائع".

دین وحکومت به هم وابسته اند؛ دین اساس است وحکومت نگهبان آن وآنچه را اساس نباشد ویران گردد وآنچه را نگهبان نباشد ضایع شود!.. در سیستم دولتمداری غربی؛ دولت اساس است ودین تابع آن. دین مجبور است به گونه ای که نیاز هر مرحله زمانی دولت است رنگ عوض کند. از اینجاست که می شنویم: تجدید و بازنگری در گفتمان دینی! یعنی دین باید گفتمانش را وفق نیاز هر مرحله دولت تغییر دهد!، این نظریه در غرب که اساس تمدن آن سیمانی است شاید به گونه ای تا مدت زمانی آنهم محدود جواب دهد، اما در تمدن اسلامی که اساس آن انسانی است چنین تصوراتی که لباس "الوهیت" را بر تن افرادی قرار دهد وآن ها را برگرده خلایق چیره گرداند وانسان را برده وبنده همنوعان خودش سازد به هیچ عنوان قابل رشد نخواهد بود. چون در غرب قداست از آن دولت (یعنی مجموعه ای از افرادی که پشت ماسک این واژه گنگ قرار دارند وجامعه را به بردگی گرفته اند) است.

**راه حل:**

تمام این سردرگمی ها برمی گردد به دوری از مفاهیم قرآن؛ یعنی اساس هویت مسلمان. قرآن در آغاز سوره بقره، انسان ها را به سه دسته تقسیم می کند: مؤمن، منافق وکافر؛ در حالی که در فضای فرهنگی ما این تباین بکلی کنارزده شده است؛ فرق بین مسجد ضرار ومسجد تقوا را بکلی از دست داده ایم. برخی به اصطلاح روشنفکران ماکه دیگران را تاریک ویا خاموش فکر تلقی می کنند، شیفته معماری مسجد ضرار شده اند و از ماهیت آن بکلی غافل!.. فضای گفتمان فرهنگی ورشد فکری جولانگاه تمام بشریت است با هر ایده وفکر وهویتی که باشند، اما منافق ویاکافر به هویتی نمی تواند امامت بنای آن هویت را بر عهده بگیرد وهیچ هویتی اجازه نمی دهد با ترازو ومعیارهای هویتی دیگر

مورد سنجش قرار گیرد؛ هرگز با ترازوی بادنجان رومی نمی توان طلا را وزن کرد، دعوت اسلام تمدن انسان سازی است وآن را با چشمان کوران مثنوی که فیل را خرطوم، ستون، بادبزن وتخت توصیف می کردند قابل سنجش نیست! این بینش کورانه ترشحاتی چون؛ میراث زن، زن ستیزی اسلام، مردسالاری هویت اسلامی و..را مطرح می سازد. غافل از اینکه مثلاً؛ میراث یک سیستم توزیع ثروت در یک تمدن انسانی مسئول است که به حجم مسئولیت های افراد وشدت قرابت با صاحب ثروت وموارد دیگری ربط دارد نه با جنسیت فرد. برای درک شیوه تعامل در فضای خانوادگی دانش های متعددی چون: انسان شناسی، روانشناسی، جامعه شناسی، تربیت وبینش اسلامی دست به دست هم می دهند تا حرفی از الفبای زندگی مشترک خانوادگی را در سایه اسلام بتوانند درک کنند. این مفاهیم تنها هنگامی در مفکوره ها حل می شود وشبه پراگنی های مغرضانه بی تأثیر می ماند که دریابیم قرآن کلام رب العالمین وشریعت الهی برنامه زندگی انسان است از جانب خالق او؛ آن آفریدگاری که سیستم گردش افلاک، آسمان ها، زمین وتمام جهان را طراحی کرده است. شناخت الله متعال وسیر در پرتو عظمت او وشناخت اسماء الله الحسنی وصفات الهی، باعث می شود محبت الله وهیبت ومکانت او در دل بندگان جای پیدا کند. آنگاه است که چون یاران پیامبر اکرم (صلی الله علیه وسلم) در مسیر آموزش قرآن قرار می گیریم:

عَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ فِتْيَانٌ حَزَاوِرَةٌ، فَتَعَلَّمْنَا الْإِيمَانَ قَبْلَ أَنْ نَتَعَلَّمَ الْقُرْآنَ، ثُمَّ تَعَلَّمْنَا الْقُرْآنَ، فَازْدَدْنَا بِهِ إِيمَانًا" رواه ابن ماجه (٦١)

جندب بن عبدالله: در رکاب پیامبر اکرم (صلی الله علیه وسلم) نوجوان بودیم. قبل از آموزش قرآن ایمان را فرا گرفتیم. سپس قرآن را آموختیم

وبا قرآن ایمان مان افزون گشت.

مهم ترین قضایایی که قرآن مطرح می کند: ستیز حق وباطل وازلی بودن آن است؛ تلاش شیطان با تمام ابزارها وحیله ونیرنگهایش جهت گمراه کردن انسان، وتلاش مؤمن بر استقامت وبندگی الله ونجات همنوعان از چنگ شیطان: إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا إِنَّمَا يَدْعُو حِزْبَهُ لِيَكُونُوا مِنْ أَصْحَابِ السَّعِيرِ ﴿فاطر/٦﴾، (شیطان دشمن سرسخت شماست، شما هم او را دشمن گیرید، جز این نیست که او حزبش را دعوت می کند که سرانجام از دوزخیان باشند)، قَالَ أَنظِرْنِي إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٤﴾ قَالَ إِنَّكَ مِنَ الْمُنظَرِينَ ﴿١٥﴾ قَالَ فَبِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ لَآتِيَنَّهُم مِّن بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَانِهِمْ وَعَن شَمَائِلِهِمْ وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَاكِرِينَ ﴿١٧﴾ قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُومًا مَّدْحُورًا لَّمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿الأعراف/١٨﴾ ((شیطان) گفت: مرا تا روزی مهلت ده وزنده بدار که برانگیخته می گردند. (خداوند) گفت: شما از زمره‌ی مهلت یافتگانی. (شیطان) گفت: بدان سبب که مراگمراه داشتی، من بر سر راه مستقیم تو در کمین آنان می‌نشینم. سپس از پیش‌رو و از پشت سر و از طرف راست و از طرف چپ به سراغ ایشان می‌روم و بیشتر آنان را سپاسگزار نخواهی یافت. خداوند جل جلاله گفت: خوار و حقیر و رانده و ذلیل از این بیرون رو. سوگند می‌خورم، دوزخ را از تو و از همه‌ی کسانی پر می‌سازم که از تو پیروی کنند.) تنها با بازگشت به قرآن واهتمام ورزیدن به قضایای اساسی قرآن می توانیم در این ستیز حق وباطل خودرا از اسارت فکری نجات دهیم. در سنت پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم سوره فاتحه به عنوان مهم ترین سوره قرآن، وآیت کرسی به عنوان آیت بزرگتر قرآن وسوره اخلاص به عنوان یک سوم قرآن مطرح می شود وهمه این سفارش ها وتأکیدات نبوی دلالت بر اهمیت شناخت الله و عظمت ومقام الهی واولویت دادن به درک مفاهیم این آیات قرآنی دارد. مفهوم شرک وتوحید محور اصلی دعوت قرآن وتمام انبیاء الهی بوده است: وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ .... ﴿النحل/٣٦﴾ (ما به میان هر ملّتی پیغمبری را فرستاده‌ایم که: خدا را بپرستید و از طاغوت (شیطان، بتان، ستمگران، و غیره) دوری کنید.....) این عبادت الله ودوری از قوانین طاغوتیان بشریت را به سوی عدالت رهنمون می شود: لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ .... ﴿الحديد/٢٥﴾

(ما رسولان خود را با دلایل روشن فرستادیم و با آن ها کتاب و میزان نازل کردیم تا مردم قیام به عدالت کنند) در پرتو تعالیم قرآن درمی یابیم که قوانین الهی از جانب الله الحکیم القادر الرحمان الرحیم العلیم العدل الخبیر القوی المتین الجامع الغنی الصبور المقسط المعطی المانع ووو ......به عنوان بهترین راهکارهای سعادت وآرامش برای بشر گذاشته شده است.

أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿المائدة/ ٥٠﴾

(آیا حکم جاهلیت را می‌جویند؟ برای آن مردمی که اهل یقین هستند چه حکمی از حکم خدا بهتر است؟). وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَٰذَا أَوْ بَدِّلْهُ ...﴿يونس/١٥﴾ (هنگامی که آیه‌های روشن ما بر آنان خوانده می‌شود، کسانی که به ملاقات ما ایمان ندارند می‌گویند: قرآنی جز این را برای ما بیاور یا این که آن را تغییر بده....) با تدبر در قرآن رده بندی اولویت هایمان مشخص می شود: مفاهیمی چون اعتماد به الله متعال وتوکل بر او ودوام سیر در یاد وذکر الله دررأس هرم اولویت های ما قرار می گیرد. آنگاه من انسان درمی یابم که از آن الله هستم وبسوی او برمی گردم وصدای پای مرگی که بسوی من در حال حرکت است را احساس می کنم، روشن بودن هدف که همانارسیدن به رضایت الهی است؛ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿الأنعام/١٦٢﴾ (بگو: نماز و عبادت و زیستن و مردن من از آن خدا است که پروردگار جهانیان است) بر اعتماد به نفس وجرأت وقدرت من می افزاید، ترس وهراس و واهمه وخودباختگی را از من می زداید وبا عشق ومحبت تعالیم قرآن را به آغوش می گیرم. تدبر در قرآن کریم وسیر در آیات الهی جهان بینی انسان را گسترده می کند و او را به نگرش عالمانه وپژوهش در قرآن طبیعت واکوان الهی وا میدارد. وسعت جهانبینی مؤمن باعث می شود با اهداف بزرگ بسوی رضایت الهی چشم دوزد و با ذکر ویاد الله گام های زندگی کوتاهش را در مسیر حرکت پیامبران الهی بگذارد تا وقتی خاک قبر بر رویش می ریزند واز زندان پرپیچ و خم دنیا رهایی می یابد خود را در بهشت های برین رحمت الهی یابد: فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ فَيَقُولُ هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ ﴿١٩﴾ إِنِّي ظَنَنتُ أَنِّي مُلَاقٍ حِسَابِيَهْ ﴿٢٠﴾ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿٢١﴾ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿٢٢﴾ قُطُوفُهَا دَانِيَةٌ ﴿٢٣﴾ كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا أَسْلَفْتُمْ فِي الْأَيَّامِ الْخَالِيَةِ ﴿الحاقة/٢٤﴾ (واما هر کس که نامه‌ی اعمالش به دست راست او داده شود، فریاد می‌زند که: نامه‌ی اعمال مرا بگیرید و بخوانید! آخر من می‌دانستم که من با حساب و کتاب خود رویاروی می‌شوم. پس او در زندگی رضایت بخشی خواهد بود و در میان باغ والای بهشت، جایگزین خواهد شد. میوه‌های آن در دسترس است بخورید و بنوشید، گوارا بادتان. مزد کارهائی که در روزگاران گذشته انجام می‌دادید).

# قرآن بهار ماه رمضان؛




تهیه و ترتیب: محمدهاشم یوسفی

نظر به این که قرآن کریم در ماه مبارک رمضان نازل شده و تلاوت آیات آن در این ماه فضیلت بسیاری دارد، در روایات اسلامی، از ماه رمضان به عنوان بهار قرآن یاد شده است؛ چنان که گفته اند: «هر چیز بهاری دارد و بهار قرآن ماه رمضان است". ماه مبارک رمضان در حقیقت یکی از نعمات بزرگ پروردگار بوده که به منظور شستشوی وجود مان از گناهان به ما اعطاء گردیده است. ماه مبارک رمضان که برای مسلمانان ماه رحمت، برکت و اخوت، بذری برای نجات از آتش جهنم و لبیک به دین مبین اسلام می باشد. ده روز اول اش رحمت، ده روز وسط آن بخشش و آمرزش و ده روز آخر آن، آزادی از آتش جهنم است. احادیث زیادی در بزرگی این ماه وارد شده، در صحیح بخاری و مسلم آمده است که پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمود: چون رمضان فرا رسد دروازه های بهشت باز شده و دروازه های دوزخ بسته می شود و شیاطین به زنجیر کشیده می شوند. الله متعال پنج چیز را در ماه مبارک رمضان از خصوصیات امت اسلامی قرار داده است که عبارتند از:

۱- خوشبو بودن دهان روزه دار نزد خدا که در اثر خالی بودن معده به وجود می آید که این نزد خدا از بوی مشک بهتر است؛ زیرا که در اثر عبادت خدا پدید آمده و هر چه ناشی از طاعت و عبادت خداوند باشد نزد پروردگار محبوب است و خداوند متعال خوبتر و بهتر از آن را به عبادت کننده می دهد؛

۲- استغفار ملائکه برای روزه داران تا هنگام افطار شان، ملائکه ها که مخلوقات معصوم و مکرمند، راستی که این ملائکه های معصوم و مکرم قابلیت آن را دارند که دعایشان در حق روزه داران قبول شود و این خود دلالت بر بلند قدر بودن روزه داران می نماید.

۳- پروردگار جهان و هستی، هر روز بهشت خود را زینت می دهد تا بندگانش را برای رسیدن بدان تشویق نماید.

۴- در این ماه مبارک شیاطین به زنجیر کشیده می شوند و مانند دیگر ماه ها نمی توانند به اهداف خود برسند و این از فضل خدا بر بندگان صالح می باشد که دشمن شان را زندانی کرده لذا ما مشاهده می کنیم که پرهیزگاران در این ماه نسبت به ماه های دیگر بیشتر رغبت به انجام اعمال خیر و دوری از گناه را از خود نشان می دهند.

۵- الله متعال در آخرین شب این ماه مبارک گناهان امت محمد صلی الله علیه وسلم را می بخشد بشرط اینکه حق این ماه مبارک رمضان مانند: نماز و روزه را به شکل احسن و شایسته ء آن بجای آورده باشد. پس ماه مبارک رمضان برای کسی که از گناهان دوری نماید و مشغول طاعت و عبادت شود نعمتی است بس بزرگ که شایسته است آنرا غنیمت شمارد.

رمضان در لغت از « رمضاء » به معنای شدت حرارت گرفته شده و به معنای سوزانیدن می باشد. چون در این ماه گناهان انسان بخشیده می شود، به این ماه مبارک رمضان گفته اند. پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم می فرماید: «انما سمی الرمضان لانه یرمض الذنوب؛ ماه رمضان به این نام خوانده شده است، زیرا گناهان را می سوزاند.» رمضان نام یکی از ماه های قمری است.

این ماه در روایات اسلامی ماه خدا و مهمانی امت پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم خوانده شده و خداوند متعال از بندگان خود در این ماه در نهایت کرامت و مهربانی پذیرایی می کند. این ماه، در میان مسلمانان از احترام، اهمیت و جایگاه ویژه ای برخوردار و ماه سلوک روحی آنان است و مؤمنان با مقدمه سازی و فراهم کردن زمینه های معنوی در ماه های رجب و شعبان هر سال خود را برای ورود به این ماه شریف و پربرکت آماده می کنند و با حلول این ماه با شور و اشتیاق و دادن طعام و افطاری به نیازمندان، شب زنده داری و عبادت، تلاوت قرآن، دعا، استغفار، دادن صدقه، روزه داری و...روح و جان خود را از سرچشمه فیض الهی سیراب می کنند.

گرچه ذکر تمام فضائل ماه مبارک رمضان از حوصله این مقال خارج است؛ ولی پرداختن و ذکر برخی از فضائل آن از نظر قرآن خالی از لطف نیست. ماه مبارک رمضان به جهت نزول قرآن کریم در آن و ویژگی های منحصری که دارد در میان ماه های سال قمری برترین است؛ قرآن کریم می فرماید: «ماه رمضان ماه ایست که قرآن برای هدایت انسان ها در آن نازل شده است.

در ماه رمضان خداوند متعال توفیق روزه داری را به بندگانش داده است؛ «پس هر که ماه [رمضان] را درک کرد، باید روزه بگیرد. انسان افزون بر جنبه مادی و جسمی، دارای بُعد معنوی و روحی هم هست و هر کدام در رسیدن به کمال مطلوب خود، برنامه های ویژه را نیاز دارند، یکی از برنامه ها برای تقویت و رشد بُعد معنوی، تقوا و پرهیزگاری است؛ یعنی اگر انسان بخواهد خودش را از جنبه معنوی رشد و پرورش دهد و به طهارت و کمال مطلوب برسد، باید هوای نفس خود را مهار کند و موانع رشد را یکی پس از دیگری بر دارد و خود را سرگرم لذت ها و شهوات جسمی نکند. یکی از اعمالی که در این راستا مؤثر و مفید است روزه داری است، انسان روزه دار در هنگام گرسنگی و تشنگی، فقرا و بینوایان را یاد می کند و در نتیجه به کمک آن ها می شتابد. از سوی دیگر، روزه موجب خودداری از شهوات است. شب قدر از شب هایی که برتر از هزار ماه است و فرشتگان در این شب به اذن خدا فرود می آیند و جمیع مقدرات بندگان را در طول سال تعیین می کنند. وجود این شب در این ماه مبارک نعمت و موهبتی الهی بر امت پیامبر گرامی اسلام صلی الله علیه وسلم است و مقدرات یک سال انسان ها (حیات، مرگ، رزق و...) براساس لیاقت ها و زمینه هایی که خود آنها به وجود آورده اند تعیین می شود و انسان در چنین شبی با تفکر و تدبر می تواند به خود آید و اعمال یک سال خود را ارزیابی کند و با فراهم آوردن زمینه مناسب بهترین سرنوشت را برای خود رقم زند. فضایل و ثواب هایی که برای ماه مبارک رمضان و روزه داری ذکر شده و به برخی از آن ها اشاره شد، از آنِ کسانی است که حقیقت آن را درک کنند و به محتوای آن عمل و در گفتار و کردار به کار گیرند و به آن ها جامه عمل بپوشانند. چنان در روایات اسلامی برای روزه داری آدابی ذکر شده و کسانی که صرفاً از روزه داری رنج گرسنگی و تشنگی را می کشند و بوسیله گناه، تأثیر روزه را از بین می برند و ماه مبارک رمضان و فضای معنوی آن تأثیری بر اشخاصی بر جای نمی گذارد، مورد نکوهش قرار گرفته اند. چنانچه پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم به زنی که با زبان روزه کنیز خود را دشنام می داد فرمود: چگونه روزه داری و حال آن که کنیزت را دشنام می دهی؟! روزه فقط خودداری از خوردن و آشامیدن نیست، بلکه خداوند آن را علاوه بر این دو، مانع کارها و سخنان زشت که روزه را بی اثر می کنند قرار داده است، چه اندکند روزه داران و چه بسیارند کسانی که گرسنگی می کشند. بنابراین، در ماه مبارک باید تمام اعضا و جوارح را از حرام دور نگه داشت و با اخلاص و عمل به دستورها و احکام قرآن کریم و دوری از گناهان، انجام توبه نصوح و واقعی، عبادت، شب زنده داری، درک فضیلت شب قدر و... فضیلت ماه مبارک رمضان را درک کرد و از آن در راستای رسیدن به کمال حرکت کرد و باید در این ماه به گونه ای خودسازی کرد که با اتمام ماه مبارک تأثیر و فواید آن در روح و جان افراد باقی باشد و اثر آن تا ماه رمضان سال بعد ماندگار باشد.

به این ترتیب ماه رمضان همواره ماه نزول کتاب بزرگ آسمانی (قرآنکریم) و ماه تعلیم و تربیت بوده است چراکه تربیت و پرورش بدون تعلیم و آموزش صحیح ممکن نیست، برنامه تربیتی روزه نیز باید با آگاهی هر چه بیشتر و عمیق تر از تعلیمات آسمانی هماهنگ گردد، تا جسم و جان آدمی را از آلودگی گناه شستشو دهد. در آخرین جمعه ماه شعبان پیامبر اسلام صلی الله علیه وسلم برای آماده ساختن یاران خود جهت استقبال از ماه مبارک رمضان خطبه ای خواند و اهمیت این ماه را چنین گوشزد نمود: ای مردم! ماه خدا با برکت، آمرزش و رحمت به سوی شما رو می آورد. این ماه برترین ماه ها است. روزهای آن برتر از روزهای دیگر و شب های آن بهترین شب ها است، لحظات و ساعات این ماه بهترین ساعات است. ماه ای است که به مهمانی خدا دعوت شده اید و از کسانی که مورد اکرام خدا هستند می باشید. نفس های شما همچون تسبیح، خواب تان چون عبادت، اعمال تان مقبول و دعاي تان مستجاب است. بنا براین، با نیت های خالص و دل های پاك از خداوند بخواهید تا شما را در روزه داشتن و تلاوت قرآن در این ماه توفیق دهد، چرا بدبخت کسی است که از آمرزش الهی در این ماه بزرگ محروم گردد. با گرسنگی و تشنگی خویش در این ماه به یاد گرسنگی و تشنگی رستاخیز باشید، بر فقراء و بینوایان بخشش کنید، پیران خویش را گرامی دارید، به خردسالان رحمت آورید، پیوند خویشاوندی را محکم سازید. زبان های تان را از گناه باز دارید، چشمان خویش را از آنچه نگاه کردنش حلال نیست بپوشانید، گوش های

خویش را از آنچه شـــنیدنش حرام اســـت فرا گیرید، بر یتیمان مردم شفقت و محبت کنید، تا با یتیمان شما چنین کنند.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: خدای عزوجل می فرماید: هر عمل فرزند آدم برای اوســت غیر از روزه که آن برای من است و من پاداش آنرا می دهم و روزه سپریســـــت (در مقابل دورخ یا گناهان) و چون یکی از شـما روزه باشــد، باید ناسزا نگوئید و فریاد نکشـید و باکســی درگیر نشود، اگر کسـی اورا دشنام داد و یا با او جنگ کرد باید بگوید: من روزه دارم و سـوگند به ذاتی که جان مصـطفی صلی الله علیه وسلم در دست اوست همانا بوی دهن روزه دار در نزد خداوند (ﷻ) از بوی مشـــک نیکوتر است و برای روزه دار دو شادی است که بدان شاد می‌شود، یکی چون افطار کند، شاد میشـــــود و دیگری که چون پروردگارش را ملاقات کند به روزه‌اش شــــاد می‌گردد. گفتیم ای رسـول خدا، همگی ما توان افطار روزه دار را نخواهیم داشـــت، فرمود: این ثواب راکسی حاصل میکند که یک چشیدنی از شیر یا یک خرما و یا یک نوشیدنی آب به روزه دار بدهد وکسی که روزه داری را سیر می نماید، خدا او را از حوض من مینوشاند که تشــــــنه نمی‌شود تا به بهشت داخل شود. رسول الله صلی الله علیه وسلم به چند دانه رطب (خرمای تازه) افطار می نمود. اگر خرمای تازه نمـی بود، پس چند جرعه آب می نوشید. رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمود: کسـیکه یک روز از رمضـان را غیر از رخصـت و بیماری بخورد اگر تمام عمر خویش را روزه قضایی بگیرد آنرا جبران کرده نمی‌تواند.

**فواید روزه از نظر داکتران جهان:**

داکتر «کارلو امریکایی» در مورد فواید روزه می گوید: روزه درمانی دراز مدت بـرای موارد زیـر تجویز می شود: فشار خون زیاد، تَصَلُّب شرائین که تازه آغاز شــــده، گرفتگی مجاری خون و لنف، آسـم قلب، آنژین قلبی، سـرطان خون، امراض عصـبی، اختلالات دستگاه متابولیسـم (چاقی، نِقرِس، ورم مفاصل، رماتیسـم، امراض کبد، ورم کیســـه صفرا، امراض معده و روده، یبوسـت مزمن، ورم لوزه مزمن، زکامهای حلق و بینی، زکامهای نای و نایـژه، ناراحتـی های کلیه و مثانه، امراض زنان (تورم لگن خاصره، اختلالات قائدگی، نازایی، یائسگی)، اگزما، دمل، کورک و کهیر، امراض چشـمی مثل آب سبز، سر درد مزمن، افسردگی، ضعف جنسـی، هیجان شدید، وسواس، نوالژی، مخصـــوصاً میگران، صعب العلاج، سرطان قبل از آشکار شدن.

**داکتر کارلو:** روزه ای که اســلام فرض کرده، بزرگترین ضامن سلامتی بدن است.

داکتر کارل (فیزیولوژیست بزرگ فرانسوی) می گوید: لزوم روزه داری در تمام ادیان تأکید شـده اســت. در روزه ابتدا گرسـنگی و گاهی نوعی تحریک عصبی و بعد ضعف احساس می شود، ولی در عین حال کیفیات پوشیده ای که اهمیت زیادی دارند، به فعالیت می افتند و بالاخره تمام اعضا مواد خاص خود را برای نگهداری و تعادل محیط داخلی و قلب قربانی می کنند.

**داکتــر تومانیاس:** فایده بـزرگ کم خوردن و پرهیـز نمودن از غذاها در یک مدت کوتاه، آن اســت که چون معده در طول مدت یازده ماه مـرتب پـر از غذا بوده و در مدت یک ماه روزه داری، مواد غذایـی خود را دفع می کند و همین طور کبد، که برای حل و هضـم غذا مجبور است دائماً صفرای خود را مصرف کند. در مدت سی روز ترشـحات صـفراوی را صـرف حل کردن باقیمانده غذای جمع آوری شــــده خواهد کرد. دسـتگاه هاضـمه در نتیجه کم خوردن غذا اندکی فراغت حاصل نموده و رفع خسـتگی می نماید.

روزه یعنی کم خوردن و کم آشـامیدن در مدت معینی از سـال و این بهترین راه معالجه و حفظ تندرسـتی اسـت که طب قدیم و جدید را از این حیث متوجه خود ساخته، مخصـوصاً امراضی را که به آلات هاضمه به خصــــوص کلیه و کبد عارض می شـود و توسـط دارو نمی توان آنها را علاج کـرد، روزه بخوبـی معالجه مـی نماید. چنانچه بهترین داروها برای برطرف کردن سوء هاضمه روزه گرفتن است، مرض مخصوص کبد نیز که موجب یرقان می گردد، بهترین طریقه معالجه اش همانا روزه گرفتن اسـت، چه آنکه ایجاد این مرض اغلب اوقات بواسطه خسـتگی کبد اسـت، که در مواقع زیادی عمل و فعالیت نمی تواند صفرا را از خون بگیرد.

**داکتر کلوخ (داکتر مشهور امریکایی):** سرطان از تماس زیاد میکروب های عفونی و سـم های آنها با بدن پدید می آید، سـرطان ابتدا دمل کوچکی است که در روده یا معده می روید، این دمل ها را می توانیم به آسـانی با یکی دو هفته روزه، معالجه کنیم. معالجه کم خونی معمولی، سیلیس، ملاریا، کثافت و چرک ریه، دمل های بسیار بد که بوسیله ترک غذا، ترک خوراکی های گوشت دار ممکن می شود.

**داکتر آلکســی سوفورین (روسی):** تنها طریق برای قطع ریشـه سرطان روزه است و بس. درمان از طریق روزه فایده ویژه ای در بیماری های کم خونی، ضعف روده ها، التهاب بسـیط و مزمن، دمل های خارجی و داخلی، سـل، نِقرس، بیماری های چشـم، مرض شکر، بیماری های جلدی، بیماری های گرده، کبد و اسـکلیرور، روماتیسم، استقا، نوراستنی، عرق النساء، خراز (ریختگی پوست) و بیماری های دیگر دارد.

تذکر مهم: اگر هدف از روزه این باشـد که مثلاً روزه بگیرد تا در چاقی و لاغریش اثر کند و یا در شکر و چربی خونش و ... مؤثر واقع شـود، این روزه نزد خداوند سـبحان ذره ای ارزش و ثواب نخواهد داشت. بناً روزه باید با اخلاص (عمل را فقط برای خشـــــنودی خداوند انجام دادن) کارهای انسان نزد خداوند قبول می شود. بنابراین وظیفه یک فرد مسـلمانی که می خواهد روزه بگیرد، آن اسـت که بگوید: «خدایا! می دانم تو حکیمی و تمام دستورات برای خیر و سعادت ما است و می دانم این عمل فوائد زیادی برای من و حتی جامعه دارد، ولی من این عمل را فقط برای رضایت و خشنودی تو انجام می دهم».

کرامت الله کـــاوون

# د یوې اړخیزې اصلاح ناکامي

د هغوی د خراب او بدترین ژوندانه هراړخ دیوه صحیح مصـلح غوښتنه کوله، د فسـاد هر اړخ د دې وړو چې پوره پاملرنه ورته وشـي او یوه ګړی هم ورته ونه کتل شي، که کوم یو عام انسـان چې پرته له وحـې او نبوت یـې د خپل عقل او پوهـې پرغوښتنه د اصلاح کار کاوه؛ نوټول ژوند به یې د فساد د یو اړخ پراصلاح قربان کړ؛ خو بیا هم ترې هیڅ ګټه په لاس نه راتله.

ځکه چې د بشـري نفسـیاتومعامله ډېره پېچلې اوباریکه ده، اود اساسي اومرکزي کمزورۍ مخه نیول یې اسان کارنه دی.

دبشـري تولنې د هرې کمزورۍ او عیب اصلاح دمکمل ژوند د وقف کولوغوښـتنه کوي، ځینې مهال د یوې تولنـې ټول ژوند د دغو کمـزوریو په لرې کولو تېرېږي خواصلاح کېږي نه مثلا: که په یوه تولنه کې د شراب څښـلوعادت خپور شوی وي اودژوند فلسفه یې مزې چړچې ګڼل وي، له شرابو د هغوی مخ اړول څه آسان کار نه دی، د دا ډول پست ذهنیت مخه په ویناوو، په تفصیل سره دشرابو د طبي زیان بیانولو او د سختو کوټلو قوانیو په وضـــع کولو او لګولو نه نیول کېږي، بلکې یوازې اویوازې ژور عقیدوي بدلون یــې مخه نیولای شي، له دې پرته که کومه بله طریقه غوره کړای شي نوجرایم اوګناهونه په بل رنګ رامنځته ته کېـږي او د ځان لپاره نوې لارې چارې غوره کوي.

که تاسو فکر ورته کړی وي د هند پاچا (ګاندي) د خپل سیاسي اوروحاني ژوند په لومړیو کې دوه اصول دخپل ژوندمقصــــد وټاکل، او په همدې دواړو هغهٔ ټول طاقتونه، ذهنـــي اوعلمـــي صلاحیتونه، اوهغه ټول وسایل ولګول چې هغه مهال د ډېرو لـږو خلکو په واک کـې وهٔ، لومړی اصل (عدم تشدد) و، چې دیو مستقیل مذهب په توګه یې بلنه ورته کوله او د همدې لپاره یـې خپل ټول ژوند وقف کـړ، ځـرنګه چــې دغه طـریقه دنفسي بدلون او د دین داساسي بلنې له لارې ببله وه له همدې امله د هغه (ګاندي) بلنـــې هغه ژور بدلون او اغېز پیدا نه کړ، چې انبیا"ع" یـې پخپلو قومونوکې پیداکوي، هغه په هندوســــتان کې پخپلو ســــترګو هغه وړووکي قومي جنګونه ولیدل چې د عدم تشد د اصول پکې په ډېره ناوړه توګه تر پښــو لاندې شول او د ظلم او تیرې ډېره بده مظاهره وشوه.

او دویم اصل دناولتیا او چټلې پرېښودل وه، پدې کار کې هم کوم خاص بري ته ونه رســـېد، دغه حقیقتونه د دې خبرې روښـــانه دلیل دی چې دانبیاء کرامو طریقه صحیح اونتیجه ورکوونکې ده اوهمدا دبرې لاره ده.

اوبل دانســـانیت صحیح پرانیســـته ده، چې پیغمبراکرم صلی الله علیه وسلم دلوی خدای جل جلاله په لاربنوونه د بلنې او اصلاح کار په ډېره غوره او صحیح طریقه سره شروع کړ، هغه صلی الله علیه وسلم د انساني طبیعت په قلف کې صحیح کیلي ورکړه او دا داســـي قلف وه چې پر خلاصـــولو یې دخپل مهال ټول مصـــلحین ناکام شوي وه، ترهر څه لومړی یـې خلکو ته په یو الله ﷻ د ایمان راوړلو بلنه ورکړه او د باطلو معبودانو نه د انکار تلقین یې ورکړ.

د طاغوت د (پرته له خدایه هـر معبود چې مطلقه نمانځنه یې کیږي) نافرمانۍ لاربـــــوونه یې وکړه، دخلکو تــر منځ ودرېد او په لوړ آواز یــې وفرمایل:

یاایهاالناس قولولااله الاالله تفلحو.

اې خلکو! ووایئ چې بې له خدایه بل معبود نشته چې بریالی شئ.

دا د هغه لوېدلې بشــریت لپاره د بقا او خلاصون غږ و چې کلونه کلونه د ژوند په ځلور لارې کې حیران ولاړ و.

دا د هغه چا لپاره د بقا اوخلاصـــــون غږ و چې دخپلو ظالمو، متعصبو اوجابر و حاکمانو د واک کړۍ یې په غاړه کې پرته وه. او دا د عـربو په وچه دښته کې داسلامي تمدن او اسلامي حکومتولۍ نوی باب و چې ګرد انسانیت یې یوازې اویوازې د یوه خدای ﷻ بندګۍ اوعبادت لپاره راباله.

او دا غږ د هغه چا په برکت په ټوله نړۍ کې خپور شو چې د پیدایښت په لومړۍ ورځ یې یوه وینځه له محکومیت اوغلامۍ نه آزاده اوحوره شوه.

دا که دراشــــــــده خلافت او عربي ملوکیت (د مسلمانانو پاچاهي) وروسته د اسلامي امت زوال او ځوړتیا پیل شوه دا د هغو امرانو له لاسه چې نه پخپله د الله ﷻ په دین پوهیدل او نه یـــې د امت علماوو او پوهانو ته غوږ نیو، نه یـــــې پخپله د خدای ﷻ له قرآنکریم سره سمې فیصلې کولې او نه یې رعیت تر یوه حده پـر ځان او ټولنه د دې کتاب حاکمیت ته پرېښــود، نه یې پخپله د الله ﷻ په لاره کې جهاد کاوه اونه یې په اســـلامي امت کې داروحیه ژوندۍ غوښته.



# په اسلام کې د ښځې مرتبه او مقام

لیکوال: مولوی احسان الله حقپال

اسلام ښځو ته چې څومره د عزت او حرمت لوړه مرتبه ورکړې او د دوی د تقدس د خوندیتوب لپاره یې کومې لاربښوونې کړې د نړۍ په ټولو مذهبونو او قومونو کې یې څرک هم نه تر سترګو کیږي، اسلام یو لور ته د ښځو د عزت آبرو او حرمت ساتلو په پار او بل لور ته یې د دوی شرعي روا او معاشرتي حقونو د خوندیتوب لپاره کوم احکامات بیان کړي چې د هغوی د حکمتونو او فایدو احاطه کول د انسانانو له عقلونو څخه د باندې خبره ده، یوه مسلمانه ښځه د خپل عزت د خوندي ساتلو او خپلو ټولو جایز تمدني حقونو ترلاسه کولو سربیره د رزق او معاش پیداکولو لپاره یو خوا بل خوا منډو وهلو لپاره نده پیداشوي بلکه مسلمانه ښځه د خپل کور د ملکې او پاچاهي لپاره پیداشوې ده، له همدې کبله اسلام او شریعت د ژوند په هره مرحله کې د دې د رزق او معاش غم خوړلی او دا دروند بوج یې له دې څخه پورته کړی دی، په عامو حالاتو کې یعني له واده نه مخکې د دې رزق په پلار او له واده څخه وروسته یې په خاوند یا بچیانو باندې لازم ګرزولی دی، له ځینو حالاتو څخه بغیر په نورو ټولو حالاتو کې یې د رزق پیداکولو لپاره دې ته اړتیا نشته چې په چوکونو او بازارونو کې وګرزي له دې امله یې د ښځو د عزت، آبرو، حرمت او تقدس د خوندي ساتلو لپاره یې دوی ته امر کړی چې: وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى (سورة الاحزاب اية ۳۳) ژباړه: تاسو خپلو کورونو کې استوګنه غوره کړی او د اولنۍ جاهلیت په څیر سینګار مه ښکاره کوئ.

د اړتیا په وخت کې اسلام ښځو ته دا اجازه ورکړې چې د ضرورت په اندازه له کوره بهر ووځي البته د پردې او حجاب چې کوم شرایط او آداب دي هغه به مراعتوي او پوره خیال به یې ساتي تر څو د څناور صفته انسانانو د ناروا لید نه په امن کې شي.

لویدیځ او د لویدیځ فکر یرغمل شوي وګړي او تنظیمونه له هر لور نه دا تبلیغات او پروپاګند کوي چې اسلام ښځو ته هیڅ ندي ورکړي او له خپلو حقونو څخه یې محرومه کړې حالانکه دا خبره بالکل دروغ ده او هیڅ حقیقت نه لري بلکه حقیقت د دې برعکس دی څکه اسلام چې ښځو ته کوم حقوق ورکړي د هغو په نورو مذاهبو کې څرک هم نه لیدل کیږي.

له اسلام نه وړاندې به د نجونو پیداکیدل شرم او پیغور ګڼل کیده: د جاهلیت په زمانه کې به د نجونو پیدا کیدل عار (پیغور) او عیب ګڼل کیده او ژوندی نجونې به یې په خاورو کې ښخولې په همدې هکله قرانکریم کې الله جل جلاله فرمایي: وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالْأُنْثَى ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ (۵۸) يَتَوَارَى مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ أَيُمْسِكُهُ عَلَى هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ أَلَا سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ (۵۹) (سورة النحل)

ژباړه: چې کله به دوی (کافرانو) ته زیری ورکړل شو د لور په پیداکیدو سره نو دقهر او غصې له وجې به یې مخ تک تور وګرځید، له خپل قوم څخه به پټیده د ناخوښۍ له کبله چې ده ته پرې زیری ورکړی شوی ؤ، یا به یې په ذلت او سپکوالي سره ساتله او یا به یې په خاورو کې ښخوله، آګاه اوسئ دا ډیره بده پریکړه ده چې دوی یې کوي.

د قرانکریم یو لوی مفسر امام بغوی رحمه الله فرمايي: د جاهلیت په زمانه کې د عربو عام دود او دستور داسې ؤ چې کله به په یوه کورنۍ کې نجلۍ پیدا شوه که به یې کورنۍ غوښتل چې ژوندۍ یې پریږدي نو بیا به یې د وړیو چین او جامې ورته جوړې کړې اوښان اورمه به یې په لاس ورکړه او لیرو سیمو کې به یې ورباندې څرولې او که به یې غوښتل چې

وي وژني نو بيا به يې تر شپږو کلونو پورې ساتله او له هغه وروسته به يې پلار د نجلی مورته وويل: چې دې نجلی ته ښه سينګار وکړه چې د خپلوانو کره يې بوځم مور به يې چې کله خپلې لورکی ته پاکې جامې ورواغوستې او ښه به يې سينګار کړه نو پلار به يې له ځان سره روانه کړه کومه کنده به يې چې له مخته ورته تياره کيندلې وه هغې ته به يې وروسته هلته به د ظالم او سخت زړي پلار ورته وويل: چې دې کنده کې څه دي ته وروګوره! چې کله به دې تنکۍ او نازولې نجلی ورکتل نو له شا څخه به يې په ډيره بې رحمی او وحشت سره ورټيل وهله او بيا به يې خاورې پدې وراچولې.

دا د اسلام نه وړاندې د ښځو مقام او مرتبه وه چې يا به يې اوښان او رمې پرې څرولې او يا به يې په ډيره بې رحمی سره ژوندی خښولې خو چې کله د اسلام مبارک دين راغی نو د نجونو پيداښت يې د برکت سبب وګرځولو او د دوی خښول يې حرام وګرځول، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ: عُقُوقَ الأُمَّهَاتِ، وَوَأْدَ البَنَاتِ (صحيح البخاري) ژباړه: الله تعالی په تاسو باندې د خپلو ميندو نافرماني او د نجونو ژوندي خښول حرام ګرځولي.

په اسلام کې د لوڼو مقام او مرتبه: په ښځوکې د ټولو نه ډير اساسي او بنيادي اهميت د لوڼو ده ځکه همدا لوڼې دي چې له دوی څخه خويندې، ميندې او بيباني تشکيل کيږي، نبي کريم صلی الله عليه وسلم د لوڼو حقونو ته ډيره پاملرنه کړې او د دوی د پالنې او ښې روزنې يې ډير فضايل بيان کړي دي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: "مَنْ بُلِيَ مِنْ هذه البَنَاتِ شَيْئًا فَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ، كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ". ژباړه: چې کوم کس د دوی په کوم امتحان کې واقع شي او هغه له دوی سره ښه سلوک وکړي دا به دده لپاره د جهنم څخه پرده شي.

پدې حديث کې هر ډول ښه والی مراد ده يعني ښه روزنه يې وکړي، ښه رويه ورسره وکړي او د زدکړو او پالنې اهتمام يې وکړي او چې کله بلوغ ته ورسيږي د واده لپاره ورته يو نيک او ديندراه کس غوره کړي. او له حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دی چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ حَتَّى تَبْلُغَا، جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَا وَهُوَ» وَضَمَّ أَصَابِعَهُ (صحيح المسلم)

ژباړه: کوم کس چې د دوو لوڼو ښه پالنه وکړي تر دې چې بلوغ ته ورسيږي نو زه او دی به د قيامت په ورځ لکه دا دوه ګوتې داسې يو ځای يو په سنن ترمذی او نورو کې دا روايت داسې هم راغلی: چاچې د دوو لوڼو پالنه وکړه نو زه او هغه به جنت ته داسې داخليږو لکه دا دوه ګوتې.

په اسلام کې د مور مقام او مرتبه: په اسلام کې د مور ډير لوړ او اوچت مقام دی له ميندو سره په ښه سلوک باندې ډير ټينګار شوی او د هغوی په رضا او خوښې کې د الله جل جلاله رضا او خوښې ده په قرانکريم کې الله تعالی له خپل حق څخه وروسته د مور او پلار د حقونو يادونه کړې او له هغه وروسته يې نور ذکر کړي او بار بار په قرانکريم کې يدې خبره ټينګار شوی چې له ميندو سره ښه رويه کوی او ضرر ورته مه رسوی ان تردې چې د اسلام مبارک دين ميندو ته دومره مرتبه ورکړې چې بچيان يې له دې څخه منعه کړي چې د والدينو مخکې به اف کلمه هم نه استعمالوي، همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم نه يو صحابي پوښتنه وکړه چې اې دالله رسوله څوک ډير حقدار دی چې نيکي ورسره وکړم؟ هغه مبارک ورته وفرمايل: ستا مور ډيرحق لري چې نيکي ورسره وکړې، دوهم ځل يې بيا پوښتنه وکړه چې دوهم قدم کې څوک ډير حقدار دي؟ بيا يې هم ورته وفرمايل: چې ستا مور په دريم ځل يې بيا پوښتنه وکړه چې دريم قدم کې څوک ډير حقدار دي؟ بيايې هم ورته وفرمايل چې ستا مور او په څلورم ځل يې ورته وفرمايل چې په څلورم قدم کې ستا پلار ډير حق لري چې نيکي او ښه ورسره وکړې، همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: الجنة تحت اقدام الامهات ژباړه: جنت د ميندو د پښو لاندې ده

**په اسلام کې د ښځې مرتبه او مقام:** د اسلام مبارک دين د بيبيانو حقونو ته ځانګړې پاملرنه کړې او خاوندان يې ديته هڅولي چې له خپلو بيبيانو سره ښه سلوک وکړي او ډير فضايل يې بيان کړي د هغه چا چې له خپلو بيبيانو سره غوره چلند کوي او په کورني ژوند کې له ميني شفقت او مهرباني څخه کار اخلي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ، وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِي" (سنن ابن ماجه) ژباړه: تاسو کې غوره هغه څوک دی چې غوره وي د خپل اهل (بيبيانو) لپاره او زه په تاسو ټولو کې د خپل اهل لپاره غوره يم.

په يو حديث کې راځي: ان اکمل المؤمنين الخ (ترمذی) کامل ترين مومن هغه دی چې اخلاق يې ښه وي او د خپل اهل او عيال لپاره نرم وي. د پيغمبر صلی الله عليه وسلم له دې فرمان څخه دا خبره معلوميږي چې سړی بايد د خپلې بي بي لپاره سراسر شفقت او محبت وي او په هر جايز کار کې يې غوښتنه ومني او زړه يې وساتي د يو څو لمحو لپاره ښه رويه کول کوم کمال نه دی او کوم ستونزمن کار هم نه دی بلکه واقعي نيک او ښه هغه څوک دی چې له خپل اهل سره د ژوند په دوران کې له صبر او تحمل نه کار واخلي او هميش ورسره مينه او محبت وکړي.

په اجر او ثواب کې نر او ښځې سره برابر دي: الله تعالی فرمايي: فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِنْكُمْ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى يعني اجر او ثواب کې نر او ښځې مساوی وی په ښځه او نر کې هيڅ فرق نشته او په سورة الاحزاب کې د الله تعالی فرمان ده: إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا (٣٥)

د ښځو او سړيو د دندو او کار تقسيم: د ښځو او سړيو په مابين کې په فطري ډول دندې او کارونه داسې تقسيم شوي چې سړی به کار او کسب کوي خپله روزي به پيدا کوي او ښځه به د کور نظم او ترتيب برابروي او د سړيو کار او کسب همدارنګه ګټه کول په ښځه کوم احسان هم نه دی بلکه دا په سړي باندې لازم او فرض ده البته پدې تقسيم کې اسلام ښځو ته دومره امتياز او فضيلت ورکړی چې د کور کارونه چارې هم پر ښځو باندې په قانوني توګه لازمي ندي البته په اخلاقي ډول يې ترغيب ضرور ورکړی چې د خاوند د کور ساتنه او محافظت وکړي ليکن که چيرته کومه ښځه په اخلاقي ډول دا کار ونکړي نو سړی يې نشي مجبورولای د دې برعکس که سړی کاروکسب ونکړي او د رزق په پيدا کولو کې سستي وکړي نو

ښځه يې مجبورولای شي چې دا دنده په جبري توګه پرې سرته ورسوي. خو اسلام چې ښځې ته دا دومره لوړ مقام او مرتبه ورکړې دا ددې لپاره چې ټولنه کې د فساد، فحشاء او عرياني مخه ونيول شي او ښځې مکلفې دي چې اړتيا نه وي په خپلو کورونو کې دننه ووسي او د ټولنې بنياد چې د اولاد ښه روزنه ده هغه سرته ورسوي.

**د کور د چاپېريال اهميت:** د کور چاپېريال د ټولنې هغه بنياد دی چې د يوې ټولنې د تمدن او تهذيب ټول عمارت پرې ولاړ دی که خدای نخواسته دا بنياد خراب شي نو دا فساد په ټوله ټولنه کې خپرېږي ددې برعکس که يوه مسلمانه ميرمن په خپل کور کې د کور چاپېريال منظم کړي او د خپلو بچيانو ښه روزنه وکړي نو په دې سره ټوله ټولنه اصلاح او ښايسته کېږي او پدې سره د سړي او ښځې دواړو آبرو او عزت خوندي پاته کېږي.

د غرب تش په نوم د ښځو آزادي: په کوم چاپېريال کې چې د ټولنې د اصلاح او پاکوالي ارزښت نه وي او وګړي د عفت او پاک لمنې په ځای بداخلاقي او بې حيايي خپله موخه وګڼي ښکاره خبره ده چې هلته بيا د کار تقسيم، حجاب، ستر، پرده او حياء نه صرف غير ضروري بلکه د لارې خنډ ګڼل کيږي ليکن کله چې په غرب کې له ټولو اخلاقي اقدارو نه د سرغړونې هوا وچليده د فحشاء او بربنډتوب طوفان شروع شو نو سړيو په کور کې د ښځو اوسيدل يو مصيبت ګاڼه له يو لورنه يې د خپل هوسناک طبيعت د غريزې د آرامو لپاره د ښځو شتون ته اړتيا وه او بل لور ته يې د ښځې نفقه په ځان بوج ګڼله نو د دې مشکلاتو د حل لارې د پيداکولو لپاره يې له ښکلي او معصوم نوم څخه استفاده وکړه او د (ښځو آزادي) نعرې يې پورته کړې.

ښځو ته يې داسې تبليغات وکړل چې تر اوسه پورې د کور په چارديواليو کې بنديانې وی اوس ستاسو د آزادۍ وخت راغلی دی تاسو له کورنو څخه راووځئ او په هر کار کې برخه واخلئ تر اوسه پورې د حکومت او سياست له قانون څخه محرومې وی اوس د دنيا يې ژوند په هره مرحله کې برابر برخه اخيستلای شئ لوړ لوړ منصبونه او چوکۍ مو په انتظار دي، او د دغې پروپيګنډې تشهيرېږي پو ټوله توانائي او وسائلو سره وکړ او دوی ته يې دا باور او ډاډ ورکړ چې د پېړيو له غلامۍ او بند څخه وروسته اوس ستاسو د آزادۍ وخت دی، اوس ستاسو غمونه نور پای ته ورسيدل ښځې بيچاره ګاڼي په دغو درواغجنو تبليغاتو او دهوکه ورکونکو خبرو څخه متاثره شوې له کورنو څخه يې سړکونو او بازارونو ته راوويستلې تر دفترونو يې ورسولې او د پرديو سړيو د سکرترۍ منصبونه يې ورکړل او د تجارت لپاره يې وکارولې او د دوی يو يو اندام يې رسوا کړ او خلکو ته يې پرې بلنه ورکړه چې راشی له مونږ نه خريد وکړی تر دې پورې چې هغه ښځې چې د هغوی په سر د فطرت دين د عزت او آبرو تاج وړپه سر کړی ؤ او د هغوی په غاړو کې يې د عفت او عصمت هار وراچولی ؤ د تجارتي ادارو لپاره د تفريح يو سامان ترې جوړ کړ، او نوم يې ورکړ چې د ښځو آزادي او ښځو ته يې دا کاذب ډاډ ورکړ چې د حکومت او سياست دروازې ستاسو پرمخ خلاصيدي ليکن لږ خپله فکر وکړئ او وګورئ! چې اوس وخت په څومره لويديځو هيوادونو کې ښځې پاچايانې او وزيرانې دي؟ او څومره ښځو د قضا منصب ترلاسه کړی؟ او څومره ښځې لوړو حکومتي رتبو ته رسيدلي؟ که چيرته دا حساب وشي نو مشکله ده چې په لکونو کسانو کې به د ښځو کچه په شمار يو څو وي صرف د څو ښځو لوړورتبو د نوم په خاطر نورې په لکونو ښځې په ډيره بې دردی سره سړکونو ته راووتې او د ښځو دآزادي په غټه دوکه کې راغلې، اوس اروپا امريکه بلکه ټوله نړی کې د ټيټو رتبو کارونه ښځو ته سپارل کيږي، په ټولو هوټلونو کې سړي کارمندان شاذ و نادر دي ورنه ټول خدمات ښځې سرته رسوي په هوټلونو کې د مسافرو اوطاقونه ښځې صفاکوي د هغوی بسترې تبديلول د ښځو په غاړه دي په دوکانونو کې توکي خرڅول د ښځو دنده ده د دفترونو په استقباليه کې ښځې استخدامېږي ټول خدماتي کارونه په هغه ښځو سرته رسوي چې له کورنو څخه يې آزادی په نوم راويستلې.

د دوی استدلال او فلسفه د تعجب وړ ده: لويديځوالو او دهغوی همفکره ډلو يوه عجيبه او غريبه فلسفه په ذهنونو مسلطه کړه هغه دا چې ښځه په خپل کور کې د خاوند، مور پلار، زوی، ورور خدمت کوي او کورنۍ انتظام يې کوي دا بنديخانه او ذلت ده ليکن همدا ښځه چې د پرديو سړيو لپاره ډوډۍ تياروي د هغوی اوطاقونه صفاکوي په هوټلونو او مسافرخانو کې د هغو ميلمه پالنه کوي دوکانونو کې ورته په خندا توکي ورکوي په دفترونو کې صاحب منصبانو ته ناز اونخرې کوي دا آزادي او اعزاز ده، بيا لوی ظلم دا دی چې همدا ښځې اته ساعته د رزق ګټلو لپاره د ذلت دندې سرته رسوي او بيا هم د کور له کارونو څخه نه دي خلاصې او د کور ټول کارونه د پخوا پشان اوس هم سرته رسوي چې کله له دندې ستړې ستومانه کور ته راشي بيا له هغه وروسته د خپل کور کارونه په مخ وړي، ډوډی پخوي لوښي مينځي او د کور صفايي کوی.

د ښځو د آزادی ناوړه پايلې: د تش په نوم آزدی پايله داشوه چې د سړيو او ښځو اختلاط منځ ته راغی چې له کبله يې کورنی نظام له منځه لاړ، بداخلاقي، فساد فحشاء اوج ته ورسيده، د جنسي زورونو واقعات له هيڅ باخبره انسان څخه پټ پاته نشول، د حسب او نسب تصور ته د پای ټکی کېښودل شو، د طلاقونو ډيروالی کور په کور کې رايج او دود شو، د جنسي ليونتوب خيالي تصور له حد نه واوښت، دا واقعات د کومې خيالي دنيا ندي دا دلويديځو هيوادونو هغه واقعات دي چې انکار ترې ممکن نه ده، هرکس چې هلته لاړ شي دا واقعات درک کولای شي، اوکوم خلک چې نشي تللی خامخا به يې په خبرونو کې اوريدلي وي او کوم کسان چې تازه تازه هلته لاړ شي يو څه وخت په عياشۍ او فحاشۍ کې تير کړي خو چې کله يې د خپلو بچيانو مسئله مخته راشي بيا دهغوی د پريشانی او غم چې کوم حالت وي د هغه بيان دلته ناشونی دی.

سوال دا دی چې ايا کوم مسلمان چې په زړه کې يې زره ايمان وی هغه دا خوښوي چې خدای نخواسته په خپل هيواد او ټولنه کې يې داسې ناوړه حالات راشي ؟ نا هيڅکه يې نه خوښوی نو بيا ولې مونږ د لويديځ د لويدلي فرهنګ تقليد کوو هغه لويديځ چې په ټولنيزه تباهي، بربادی او اخلاقي فساد کې اخرې حد ته رسيدلی.

# زما افغان، مسلمان او با احساسه زلمیه!!

خالقیار احمدزی

زما افغان مســـلمان زلمیه! نن ستا پر مســـؤلیتونو، بوختیاوو او دا چې څه باید وکړې، له څه ډډه وکړې؛ اړوند موضوعاتو باندې تم کېږم، هیله ده تر پایه راسره مل پاتې شې او په غور یې ولولې.

گرانه زلموټیه! نن دې چې د ځوانی ســـپرلي د هیلو نوي وږمې ســـپړلي، نو تازه یې له ســـختو او ننگونکو مســـؤلیتونو سره هم مخ کړی یې چې باید په آرامو مغزو او جدي توگه ورته ځانگړې پاملرنه وکړې.

زلمیه! اړینه ده چې له ماشومتوبه، تر دې مهاله دې لږ تر لږه باید لیک لوســـت زده کړی وي تر څو د لارې ځراغ پرې روښانه وساتې، کنه وي، لا دې هم وخت نه دی تیر، دې مهم کار ته اوگه ورکړه.

زلمیه! تر پرونه چې مور، پلار، مشـر وروړ او مشـرې خور دې په سختې پالنه ترسـره کوله، نن باید له ټولو مننه وکړې او د شـکریې لپاره یې د هغوی د خدمت ترڅنگ هغه کارونه ترســـره کړې، چې هغوی یې درڅخه تمه لري.

په ځانگړې ډول له پلار او مشـر وروړ سره په اړوندو چارو کې لازمه همکاري کوه او هیڅکله یـې پـر ځان سخته مه تماموه ځکه د همدوی له تناکو لاسونو دې ترپرونه ډوډۍ ترلاســـه کوله او نرم مرفع ژوند دې درلوده. خپلو لوړو زدکړو ته پاملرنه وکـړه او له ټولو هغو عبثیاتو او لاوبالي چارو په کلکه ځان وساته، چې ستا د چارو مخکې خنډ جوړوي.

خپل عبادت، ذکـــر او تقوا ته زیات پام کوه، له ټولو هغو چارو چې ســـتا او د دین ترمنځ واټن جوړوي، په کلکه ځان وساته.

هڅه وکړه په خپله کورنۍ کـې مثبت انقلابیت رامنځته کړې، علم او دینداري ته هغوی ســـوق کړې او هغه ډول خواري وکړې، لکه پرون چې ســـتا والدینو له تاسره کوله.

له مخدره توکو په کلکه ځان ساته او دغه راز هڅه کوه روږدي کسان له خپل دغه بدعمل څخه راوگرځوې.

ښـه اخلاق ســـتا تر ټولو ښــه وسـله ده، که غواړې د انسانانو ښکار پرې وکړې، ځان پرې ومنې او هغوی ځان ته راخپل کړې.

کوښښ کوه خپل زیات وخت دې مطالعې ته ورکړې او په هر ډول مطالعه کې له خپلو استادانو سره خامخا مشـــوره کوه، ځکه کله ځینې کتابونه سړی له سمې لارې هم منحرفوي.

د ســـیمې له جیدو علماؤ، پوهانو او له هوښـــیارو مشرانو سره وخت په وخت ناستې کوه او په ټولو اړینو چارو کې یې نظرپوښته.

د کور خبرې په کور کې ساته او د باندې یې له چا سره مه شـــریکوه او د بهر خبرې کور ته مه راوړه، ځکه لومړی یې شرمنده گي او دوهم یې بې باوري رامنځته کوي.

هو! که له کورنې جنجال سره مخ وې او کوم هوښیار مشـــاور نه لرې، نو که یې د سیمې یوه راز ساتونکې عالم، دکلي له تجربه کار ســـپینږیرې او له خپل راز دار ملگرې سره شریک کړې، مشـــکل نشته. هرڅه کې منځلارې "معتدل" اوســـه! که هرڅومره خوږ او نـږدې ملگـرې ولـرې، خپل ټول رازونه مه ورکوه، ځکه که سبا دې ممکنه دښـمني ورسـره راتله، نو په آسـانې سـره دې پرضـد اقدام کولای شـي. له خپل دښمن سره هم دومره دښـمني او ضـدیت مه کوه چې ســـبا که دوســـت جوړیده، په خپلو تیرو کړنو د شرمندگي احساس وکړې.

ټولنه کې د هغو کســانو مخه ونیســه چې عقیدوي او فکري انحراف راولـي، د بـې حیا، لوڅکو او بـې بندوباره خلکو سره په ټول توان مبارزه کوه.

پردي ناموس ته کله هم په بده ســترگه مه گوره، ځکه هغه ټوري سړې، چې ته ورته په بدو ســترگو گورې، هم د چا مور، خور او عزت ده، لکه څنگه چې تاته په خپل ناموس ننگ خوند درکوي، هغه هم همداســي او ترځان غیرتي وبوله. که څه هم د واده کولو خوښـه ستا خپل حق دی، خو په دې تړاو د مقابل لوري سیال داري او د خپلې کورنۍ رضـاء هم شـرط ده چې باید ویـې لـرې. همداراز د پردی نجلـۍ د نکاح لپاره ته یواځې یوځل حق لرې چې هغې ته وگورې، نور درته دا نه دي مناسب چې له هغې سره تگ راتگ، ناسته پاسته او نور بې بندوباره کړنې ترسره کړې..

لکه څنگه چې پوهیږې، په اســـلام کې د حرمة المصاهرة "د خسرگنۍ تحریم" مسئله مهمه ده باید په هکله یـې هم خپله مالومات ولـرې او هم یـې له نورو ملگرو سره شریک کړې..

همیشـه پر مشـرانو سلام اچوه او په دې برخه کې هڅه کوه، اولویت ترلاســه کړې، ځکه دا تکبر او ځان پالنه لمنځه وړي.

له خپل ملگرې او بل هرچا سره تر دریو ورځو زیاتي خبرې مه پرې کوه، که ناښونې وه نو ســلام وراچولو سره خپل مسؤلیت آدا کوه.

ته اوس د خپلو مشـــــــرانو وارث یې او ټول هغه مســـؤلیتونه چې پرون هغوی درلودل ستا غاړې ته در لویدلي نو د پلار او نورو مشـرانو خپلون او دوستان مه خفه کوه او له هغوی سره ښه گذاره او راشه درشه کوه.

د تاریخ مطالعه خپل عادت وگـرځوه او په هغه تگ لوري قدمونه کیږده چې ستا مشرانو، اسلافو پرې یون کړی دی.

د خپل دین، وطن او عقیدې ســاتنې څخه کله هم مه غافله کیږه او په ټول توان هڅه کوه چې ددې لارې له سرتیرو سره ځان ملگری وساتې.

دا چې نن زه او ته د اسـلام پر عقیده راټول یو، نو دا د جهادي هڅو بـــــرکـت ده، نو کله هم د مجاهد له خدمت ســــــرغړونه مه کوه، هر وخت یې ممکنه همکاري ته وردانگه او په ځانې، مالي او نورو بـرخو کې ځان ورسره برخوال حسابوه.

په هر څه کـې اخلاص ولـره، ځکه د عباداتو د قبولیت دارومدار په اخلاص او صفاء نیت ورتړول ده.

د نبوي سنتو متابع او پیرو اوسیږه او په دې برخه کې له هیڅا شرم او ویره مه احساسوه.

بازارونو کـې زیات مه گـرځه او د کوڅو یتیمانو، مظلومانو او بې ځوکه خلکو وخت پر وخت پوښتنه کوه او د خپل وس مطابق یې لاس نیوی کوه.

زراعت او دهقانـي ته پاملـرنه وکـړه، ځکه د هیواد اقتصاد پر همدې ولاړ دی.

او په آخـر کـې ما لیکوال ته هم د زړه له کومـې دعا کوه؛رب دې تا هم په ټولو چارو کې بریالی لري.

# بیت المال او غنیمت کې خیانت کول

لیکنه: صالح بن علي ابوعراد.
ژباړه او وضاحت: مولوي نورالحق مظهري

لومړۍ برخه:

د شـــــهید عبدالحق عمار له کتاب څخه له دې نه ځان وساتئ څکه انجام یې هلاکت ده.

له تقسیم نه مخکې بیت المال کې تصرف کول: بې بې خولة انصـــاریة رضی الله عنها فرمایي: ما له رسول الله صـــلی الله علیه وســـلم څخه واوریدل فرمایل یې: ځینې خلک د الله په مال کې یعنې بیت المال او غنیمت کې بغیر له استحقاق نه تصـــرف کوي د داسې خلکو لپاره به د قیامت په ورځ د جهنم اور وي (رواه البخاري) معلومیږي چه غنیمت کـې مخکـې له تقسیم نه هر ډول تصـرف او استعمال ناروا او حرام دی څکه مخکې له تقسـیم نه هیڅوک مسـتحق د غنیمت نه دي.

د پیغمبـــــــر د خدمت په وجه هم خیانت نه معاف کیږي: حضـــرت ابوهریرة رضی الله عنه فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چا یو غلام تحفه کې ورکړ، د هغه غلام نوم مدعم و یوه ورځ د جنګ په میدان کې یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم کجاوه ښکته کوله چې ناڅاپه یو غشـی راغی او غلام په ولګیدې او مړ شو خلکو وویل: مدعم ته دې جنت مبارک وي یعنې درسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې شـهید شـو او جنت ته به ځي، خو رسـول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هیڅکله داسې نده قسم په هغه ذات چې زما ســـاه د هغه په لاس کې ده هغه څادر چې مدعم د خیبـــر په ورځ د مال غنیمت نه مخکـې له تقسیم نه اخیستی و هغه نه اور جوړ شوی په مدعم اور بلوي، کله چـــې دا عذاب خلکو واورید له دینه مخکـې دوی ګمان کـړی ؤ چـې بیت المال کـې خیانت به دومره ګناه نه وي په ورکې شـــــي به مؤاخذه او نیول نه وي نو د الله تعالـی ﷻ له ویرې وریبدل هغوی چې له بیت المال نه واړه شـــــیان اخیســـتي هم وه بیرته یې راوړل بیت المال ته یې تسلیم کړل، تر دې چې یو کس یوه یا دوه تسمې یې اخستې وې هغه یې راوړې بیت المال ته یې تسـلیم کړې رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم چه ولیده وې فرمایل: یوه یا دوه تسـمې د اور دي یعنې د خیانت شـی چې هر څومره وړوکی وي باعث جهنم دی (رواه البخاری ومسلم)

مدعم د رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم په خدمت کې شهید شو بیا هم خیانت ورته معاف نشو د خیانت په وجه به جهنم ته ځي اوس وخت کې داســـې څوک شـته چې د هغه په واسـطه، په محبت یا خدمت په وجه د بیت المال خیانت ورته معاف شي؟

**بیت المال کې خیانت په ورځ د قیامت بې عزتي ده:** له عبادة ابن صـامت رضـی الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صـلی الله علیه وسـلم به فرمایل: تار او سـتن هم ادا کړئ یعنې له غنیمت نه معمولي څیـز هم مه پټوئ او د بیت المال له خیانت نه ځان وساتئ څکه دې کې شک نشـــته چې خیانت کول خیانت کونکي ته د قیامت په ورځ بې عزتـي راوړي. (رواه الدارمي)

**بغیر له ضرورته د بیت المال اسـتعمال:** له رویفع ابن ثابت رضـــی الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کوم کس چې په الله تعالی او په ورځ دآخرت ایمان لـري هغه ته قطعا روا نده چې د مســـلمانانو په مشـــترکه دآبه (سوارلی) سـپور شـي یعنې د بیت المال په سـوارلۍ تر دې پورې چې هغه کمزوري شي او بیا یې بیت المال ته تسلیم کړي او هغه کس چې په الله تعالی ﷻ او په ورځ دآخرت ایمان لـري هغه ته قطعا روا نده چې د مســـلمانانو مشـــترکه یعنې د بیت المال جامه استعمال کړي تردې چې زړه شي بیا یې بیت المال ته تسلیم کړي. (رواه ابو داؤد)

**مجاهدینو ورونو:** موټر یا موټرسـایکل د امارت چه تاته خپل امیـر درکـړی یا کوم تجار او کلیوال درته اخیســـتی دا د بیت المال دی، بغیر له ضرورته یې زغلول یا ګرځول او چکرې پکې وهل درسـول الله صلی الله علیه وسلم د حکم په اساس قطعا روا نده، بناءاً د خپلوان یا ملګري په ښادي او خوشالي کې د بیت المال موټر او موټرسـایکل ګرزول یا زغلول یا د بیت المال په اسلحه ډزې کول روا ندي دا په بیت المال کې اسراف او خیانت دی، او د آخرت په ورځ ضـرور پدې څیزونو مواخذه او ګرفت شــــته، که دا څیزونه دې خپل هم وي بیا هم اسراف ده او اسراف په خپل مال کې هم نده روا، تاسـو دخپلو اسـلافو ودونه او خوشحالیانې وګورئ هیڅ اسراف او فضـول خرچې پکې نده شوې.

**د خیانت په سبب د شـهید انجام:** له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې حضـــرت عمر ابن خطاب رضـــی الله عنه یوه ورځ دا بیان وکړ: چې کله د خیبر د غزاء وروستی ورځ شوه ځینې کسـان راغلل او په خپل مینځ کـې یـې خبرې کولې چـې فلانـی سړی شـهید شـو یعنې د خیبر په غزاء کې چې کوم کسان شهیدان شوي ؤ د هغو نومونه یې اخیستل تر دې چې په یو جسـد تیر شول دې کسـانو وویل چې دا فلانی سړی دی شـهید شـوی، نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چې تاسـو چاته شـهید وایې دا غلطه ده څکه دې ســـړي د غنیمت له مال څخه یو څادر یا لیکو والا کمپله غلا کـړې او د دې په وجه ما

په دوزخ کې ولید، راوي فرمايي: بيا رسول الله صلی الله علیه وسلم ابن خطاب ته وفرمایل: لاړ شه خلکو ته اعلان وکړه چې یوازې کامل مؤمنان جنت ته داخليږي، حضرت عمر رضی الله عنه فرمايي زه ووتلم او درې ځله مې دا اعلان وکړ چې خبردار! جنت ته به کامل مؤمنان داخليږي.(رواه مسلم)

يعني کوم کسان چې تقوا وکړي او له گناه ځخه ځان وساتي هغه به بغير د عذاب تيرولو څخه جنت ته داخليږي او کوم کسان چې تقوا ونکړي او گناهگار وي هغه به د خپلو گناهونو سزا څکي بيا به جنت ته داخليږي، دا نوموړی کس درسول الله صلی الله علیه وسلم په محبت کې او د صحابه ؤ په صف کې ووژل شو خورسول الله صلی الله علیه وسلم بيا هم فرمايي: شهيد نده ما د خيانت په وجه جهنم کې وليد سبحان الله! خيانت په بيت المال کې څومره لوی جرم او گناه ده که نن عصر کې څوک د خيانت په صورت کې ووژل شي شهيد به وي او که به نه وي؟

په خاين باندې درسول الله صلی الله علیه وسلم جنازه نکول: له یزید ابن خالد رضی الله عنه څخه روایت دی چې په صحابه ؤ کې د خيبر په ورځ يو کس وفات شو صحابه کرامو پيغمبر صلی الله علیه وسلم ته هغه ياد کړ چې فلانی وفات شوی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تاسو په هغه د جنازې لمونځ وکړی يعنې زه د هغه د جنازې لمونځ نه کوم د صحابه ؤ د مخونو رنگ بدل شو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ولې د هغه د جنازې لمونځ نه کوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زه يې ځکه نکوم چې ستاسو ملگري د الله په لار کې يعنی بيت المال کې خيانت کړی مونږ چې د هغه سامان و لټولو نو د يهوديانو د ښځو يو هار يکې پيدا شو چې دوه درهمه قيمت يې درلود(رواه مالک، ابوداؤد و نسايي)

څومره سخت وعيد دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم يې د جنازې لمونځ نکوي الله عزوجل دې د هغه چا په حال رحم وکړي چې ټول لگښت يې له بيت المال څخه وي د محشر په ورځ به يې څه حال وي الله دې مونږ له داسې حالې وساتي.

خيانت پټونکی په شان د خيانت کوونکي دی: له سمرة ابن جندب رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کوم کس چې د غنيمت مال کې د خاين خيانت پټ کړي يعنې خپل امير اورهبر يې ورباندې خبر نکړي نو دا کس په گناه کې د خيانت کوونکي غوندې دی.(رواه ابوداؤد)

مجاهدينو ورونو! پخپله هم له خيانت نه ځان ساتل پکار دي او خپل ملگري يا بل کس په خيانت وليدل شي منع کول يې پکار دي که نه منعه کيده خپل امير يا د هغه امير ورباندې خبرول پکار دي اگر که هغه تا ملامت کړي او د شيطان لقب درباندې کيږدي ته په دې نه شيطان کيږې ځکه تا درسول الله صلی الله علیه وسلم په فرمان عمل وکړ، رب ذوالجلال فرمايي: ولاتخافون لومة لائم: ژباړه: د ملامت کونکي له ملامتيا مه ويريږه، دغه پورتني روايات له مشکوة شريف نه او شرحه يې له مظاهر حق نه را اخيستل شوي ده.

**د مسئوليت په آداء کولو کې ۱۰ نصحيتونه**

۱ – چې مسئوليت دې هرڅومره په ښکاره د الله لپاره وي بيا هم په آداء کولو کې يې خپل نيت خالص د الله لپاره وگرځوه تر څو په سرته رسولو کې الله تعالی مرسته درسره وکړي او ثواب هم درباندې مرتب کړي.

۲ – خپل د مسئوليت په اړه معلومات حاصل کړه چې هم يې په ارزښت پوه سې او هم يې پوره آداء کول درته آسانه سي، کوم مسئوليت چې ته يې په اړه معلومات نلرې او په اړه يې معلومات هم نشې حاصلولای هغه مسئوليت پر غاړه مه اخله.

۳- د مسئوليت د آداء کولو سره هم مهاله په ښو اخلاقو ځان متصف کړه او په رښتينولی، امانت، نرمی ، عفوي، حلم، عاجزی ، صبر او مهربانی باندې ځان ښايسته کړه تر څو نور خلگ په تعامل کې محبت درسره وکړي او په سبب يې ستا احترام او قدرداني وشي.

۴ – د اړتيا سره سم په خپل مسئوليت باندې ځان مصروف کړه تر څو په نورو شيانو مصروفيت دې مسئوليت درڅخه هېر نکړي او يا دې په مسئوليت کې د ناغېرې لامل نشي او د يوې ورځې مسئوليت بلې ورځې ته مه پرېږده ترڅو کارونه درباندې ډېر نسي چې بيا يې د کولو څخه عاجز پاته کيږې.

۵ – هيڅ وخت د مسئوليت په آداء کولو کې زوړوالی او منفيگرايي مکوه تر څو د مسئوليت روح دې ژوندی پاته سي بلکې نوي ابتکارات وزېروه او هميشه د مسئوليت سرته رسول تازه وساته او هره ورځ يې په پوره علاقه مندی او شوق سره پيل کړه.

٦ – د خپل مسئوليت سره محبت او علاقه ولره او په ډېر لوړ همت باندې د نورو انسانانو سره په مشوره يې سر ته ورسوه ترڅو د مسئوليت آداء کول هم درته آسان سي او د نورو خلکو مرسته هم تر لاسه کړې.

۷ – مسئوليت چې هر څومره سپک وي خو په کولو کې يې ستا شخصيت، قدرت او هويت ښکاره کيږي بناء مسئوليت جدي ونيسه تر څو شخصيت دې دروند، قدرت دې پوره او هويت دې مسلمان خادم تثبيت شي.

۸ – دا معلومه خبره ده چې د نورو سره په همکارۍ د مسئوليت آداء کول ډېر مؤثر دی او په آداء کولو کې يې پر آسانی ډېر مثبت تأثير ايږدي نو کوښښ وکړه چې نور هم د ځانه سره مل کړې او د تکړه ټولی په مشوره کارونه پر مخ يوشي.

۹ – پدې خاطر چې مسئوليت دنده او تکليف دی امتياز او گټه نده د مسئوليت په آداء کولو کې د الله تعالی څخه مرسته وغواړه تر څو دې په آداء کولو کې قوت او امانت دواړه په نصيب شي ځکه د مسئوليت په ښه آداء کولو کې قوت او امانت ډېر فعال رول لري.

۱۰ – د مسئوليت په ښه آداء کولو باندې مه مغروره کيږه او دا د ځان کمال مه بوله بلکې د الله تعالی ﷻ احسان يې وبوله او نور هم د الله تعالی ﷻ شکر آداء کړه چې تاته يې د ښه آداء کولو توفيق درکړی او مرسته يې درسره کړې ده.

## په حجاب کې مرغلرې پرښتې ته

زما ښکلې لوپټې حجاب بورقې ته مې سلام دی
په حجاب کې مرغلرې پرښتې ته مې سلام دی
څومره ښکلې پکې ښکارې زما خورې قدرمنې
د حیا نمونه ته شې حیاناکې او پتمنې
ته روانه د عایشې او خدیجې په قدمونو
په حجاب کې محجبه ته جنت ته یې په پلونو
ښایستونه ښکلاګانې راټول شوي په حجاب کې
ته سپوږمی د څوارلسمې مخ دې پټ دی په نقاب کې
رڼاګانې درسره دي تا ډېوه په لاس نیولې
ته امت ته مدرسه شه کتابچه په لاس نیولې
په حجاب کې شه ډاکټره په حجاب کې انجینره
بې حجابه چېرته نشې مدرسه کې مقرره
په حجاب کې یې روزلې اتلان قهرمانان دي
ټول امت ته څراغونه رڼه ستورې د آسمان دي
نه پوهیږم څه کمال دی څه خبره عریانی کې
دا چې غرب یې نشروي اسلامي امت نړی کې
عریانی کې بل څه نشته بس صفت د یو حیوان دی
چې په دې صفت موصوف شي دا نو څرنګه انسان دی
په قرآن کې بیان شوي د حجاب دي آیتونه
عریانۍ که ښه صفت وای رب به نه کړل دا حکمونه
په غربي فکر سمبالو جوړه کړې دسیسه ده
د پتمنې خور لپاره جوړه کړې یې نقشه ده
چې بې پته بې عزته د غربیانو بازیچه شي
اسلامي امت لمنه کې اغزی ماته ښیښه شي
مګر پام کوه خورجانې تل وسله په لاس ګرځېږه
تل مدام توره او ډال غشی لینده په لاس ګرځېږه
ټوله لار یې په اغزو ماتو ښیښو درته پوښلې
دې لښکرو د ابلیس په مورچلو درته پوښلې
تل جهاد ته شه روانه مجاهده قهرمانه
په حجاب کې ملکه شه پرښته شه با ایمانه
عایشه وایي په حجاب او لوپټه کې مې سکون دی
ملکه یم تاج پر سر په پاچاهی کې مې ژوندون دی

عایشه عمار

## دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوداصحابوکرامو(۱۲) غوره ویناوې!

۱: رښتینی قوي ایمان دا ده چې دالله تعالی پر ورکړه باندې خوښ او راضـــی شـــې: (خواجه ویس قرنی)
۲: ته په دنیا کې د اوسیدلو په شیانو بوخت یې: او دنیا غواړي چې تا د ځانه څخه ژر وباسي: (حضرت ابوبکرصدیق)
۳: د الله تعالی په نېز د دو څاڅکو څخه ډیر ارزښتمن نور هیڅ څاڅکي نشته:
اول:
د اوښـــــــکو هغه څاڅکي چې د الله تعالی له وېدې څخه بهیدلي وي: دوهم: دوینو هغه څاڅکې چې د الله تعالی په لاره کې خاص د الله تعا لی د رضا د پاره توی شوې وي (نبي صلی الله علیه وسلم)
۴: کوم څوك چې د سلام دمخه پوښتنه وکړي و هغه ته جواب مه ورکوئ تر څوچې یې سلام نه وي ویلی: (نبی صلی الله علیه وسلم)
۵: او وچ لرګي دومره ژرنه سوځي: لکه څومره چې غیبت دانسان عملونه سوځوي (نبی صلی الله علیه وسلم)
٦: په حلالو شیانو کې د الله تعالی په نېزد هیڅ شـی دومره بدنه دي: لکه طلاق (نبی صلی الله علیه وسلم)
۷: کوم څوك چې د غوښـــتلو عادت په ځان کې راولي: الله تعالی پر هغه باندې د احتیاجی دروازې خلاصوي (نبی صلی الله علیه وسلم)
۸: ماته د روژې د میاشتې روژه نیول او په مسجد حرام کې په اعتکاف کې د کینستلو څخه ډیر زیات محبوبه دا ده چې زه پروخت د ضرورت د یو مســلمان خدمت او کومك وکړم (نبی صلی الله علیه وسلم)
۹: ښځه د زروسور والي او د زعفرانو زیړوالي برباد کړې ده (حضرت ابوبکرصدیق)
۱۰: دالله تعالی او د بنده تر منځ توکل یو راز دی: نوبیاضـــروري ده چې پرته د الله تعالی نه په دې راز څوك پوه نشي (حضرت امام محمدشیبانی)
۱۱: سخي دوست د الله تعالی دی که چیرې فاسق هم وي: او بخیل دښمن د الله تعالی دی که چیری زاهد هم وي (حضرت عمرفاروق)
۱۲: دالله تعالی وجود تل د خپل ځان سره ګڼل کامل ایمان دی (حضرت عثمان غنی)

۱- څوك چې دینـــي علم د دی په خاطـــر زده کوی چـــې د خلکو پام ځان ته را واړوی ځای به یې دوزخ وي.
۲- ستر سړی خلور صفتونه لري کمیني، ادب، مهرباني، او عدالت.
۳- کله چې یوسړی بل ته پور ورکړي نو د پور ورې سوغات دې نه قبلوي.
۴- څوك چې د ظالم په ظلم پوهیږي او سره له دې د هغه د تقویې لپاره زیار باسي کامل داسلامیت له دایرې څخه وتلی دی.
۵- ښکاره دښمني د منافقې دوستی څخه ډیره ښه دی.
٦- د ملګري په نیمګړتیاو پسې مه ګرځه او کنه بې ملګري به پاتې شې.
۷- د چرګ حلالولو لپاره د غوایي حلالولو چاړې ته ضرورت نشته.
۸- ستر سړی په ځان فشار راولي او کوچنی سړی په نورو.
۹- هیڅ شـی دخدای (ج) په وړاندې دومره غوره نه دی لکه چې څوك خپل قهر ده دخوښی په غرض وزغمي.
۱۰- دقیامت په ورځ د قدر او منزلت له مخې د ټولو ټیټ ســـړی به هغه وي چې د خپل علم څخه یی ګټه نه وي اخستې.
۱۱- ډیرې خبرې د پوهې دلیل نه وي

## فواید شگفت انگیز آیت الکرسی

عبدالله بن عوف گفته است: شبی خواب دیدم که قیامت شده است و من را آوردند و حساب ام را به آسانی بررسی کردند. آنگاه مرا به بهشت بردند و کاخ‌های زیادی به من نشان دادند. به من گفتند: درهای این کاخ را بشمار؛ من هم شمردم ۵۰ درب داشت بعد گفتند: خانه‌هایش را بشمار. دیدم ۱۷۵ خانه بود. به من گفتند این خانه‌ها مال توست. آن قدر خوشحال شدم که از خواب پریدم و خدارا شکر گفتم، صبح که شد نزد ابن سیرین رفتم و خواب را برایش تعریف کردم.

او گفت: معلوم است که تو آیت الکرسی زیاد می‌خوانی. گفتم: بله؛ همین طور است. ولی تو از کجا فهمیدی. گفت برای اینکه این آیه ۵۰ کلمه و ۱۷۵ حرف دارد. من از زیرکی حافظه او تعجب کردم. آنگاه به من گفت: هر که آیه الکرسی را بسیار بخواند سختی‌های مرگ بر او آسان می‌شود.

## حلول ماه رمضان و عید فطر به همگان مبارک

ماه رمضان بر همهٔ آنانی که چشم، دل، زبان، رفتار و کردار شان در خدمت خلق خداست و زمین را، آب را، گل و سبزه و دیگر موجودات را آسیبی نمیرسانند، خجسته باد. یقیناً که در این ماه پر برکت، با بهره‌گیری از معنویت مناجات با خدا و درس آموزی از کتاب وحی و سنت پیامبر اسلام (صلی الله علیه وسلم) و حضور در ضیافت الهی صیام و قیام، بتوانیم بیش از پیش در مسیر تحکیم پیوند مودت، اخوت و امنیت در میان ملت رنجدیدهٔ کشور عزیز مان افغانستان، پیشقدم باشیم. چون، رمضان ماه ای است که ابتدایش رحمت، میانه اش مغفرت و پایانش اجابت است. رمضان، یعنی مهمان خدا بودن؛ رمضان، بهانهٔ بخشش گناهان؛ رمضان، پاک و نورانی شدن از معاصی؛ رمضان، یتیمان را نوازش کردن و خبرگرفتن؛ رمضان، یاری رساندن بر بینوایان و... میباشد.

**بقول شاعر:**

**آمد رمضان و مقدمش بوسیدم**
**در رهگذرش طبق طبق گل چیدم**
**من با چه زبان شکر بگویم تا برسم**
**یک‌بار دیگر ماه خدا را دیدم**

**..................................**

**آمد رمضان هست دعا را اثری**
**دارد دل من شورو نوای دگری**
**مابندهٔ عاصی و گنهکار توئیم**
**ای داور بخشنده بـه ما کن نظری..**

ارسالی: محمدسهیل یوسفی، متعلم صنف پنجم

## معجزه علمی قرآن کریم در باره بحر الکائل

آیا در عصر پیغمبر اکرم (ص) کدام طیاره وجود داشت؟

آیا پیغمبر در عمر خویش سفر کرده بود تا از نزدیك این بحر عجیب را مشاهده کند و طبق آیات مبارك خصوصیات این بحر را به معرفی بگیرد؟

نخیر! بلکه قرآن کتاب هدایت و انسان سازی است.

و قلباً یقین و باور کامل داشته باشیم؛ قرآن کلام الله است.

بنام الله که رحمتش بی پایان است.

(وَهُوَ الَّذِی مَرَجَ الْبَحْرَیْنِ هَذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهَذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَیْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَحْجُورًا) «الفرقان/۵۳»

او کسی است که دو دریا را در کنار هم قرار داد یکی گوارا و شیرین و دیگر شور و تلخ و در میان آنها برزخی قرار داد تا با هم مخلوط نشوند (گویی هر یك به دیگری میگوید) دور باش و نزدیك نیا!

ویقول عز وجل: (أَمَّنْ جَعَلَ الْأَرْضَ قَرَارًا وَجَعَلَ خِلَالَهَا أَنْهَارًا وَجَعَلَ لَهَا رَوَاسِیَ وَجَعَلَ بَیْنَ الْبَحْرَیْنِ حَاجِزًا أَإِلَهٌ مَعَ اللَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا یَعْلَمُونَ) «النمل/۶۱»

یا کسی که زمین را مستقر و آرام قرار داد و میان آن نهرهایی روان ساخت و برای آن کوه های ثابت و پابرجا ایجاد کرد و میان دو دریا مانعی قرار داد تا باهم مخلوط نشوند با این حال آیا معبودی با خداست؟ نه بلکه بیشتر آنان نمی دانند و جاهلند.

ویقول سبحانه: (وَمَا یَسْتَوِی الْبَحْرَانِ هَذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَائِغٌ شَرَابُهُ وَهَذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ) فاطر/۱۲.

دو دریا یکسان نیستند این یکی دریایی است که آبش گوارا و شیرین و نوشیدنش خوشگوار است و آن یکی شور و تلخ و گلو گیر

و یقول جل و علا: (مَرَجَ الْبَحْرَیْنِ یَلْتَقِیَانِ. بَیْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَا یَبْغِیَانِ. فَبِأَیِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ) «الرحمن/۱۹-۲۱»

دو دریای مختلف (شور و شیرین، گرم و سرد) را در کنار هم قرار داد در حالی که با هم تماس دارند در میان آن دو برزخی است که یکی بر دیگری غلبه نمیکنند و به هم نمی آمیزند پس کدامین نعمتهای پروردگارتان را انکار میکنید. سبحان الله

لیکوال: مولوي عبدالهادي حماد



# هغه کرښې چې د خیانت په وړاندې نفرت زېږوي

لطفاً د تجربو او بزرگانو دهدایاتو خلاصــه په لاندې کرښــو کې وواياســت ممکن په یو اړخ کې لا گټمن تمام سي: ځومره ماته (شکســـــت) چې خیانت یو ملت ته ور کولای شــي، جنگ یې نه شــي ور کولای؛ خیانت هیڅکله نه ښکلی کیږي که ښکلی ســو بیا هېڅکله خیانت نه بلل کیږي؛ ښــه هوښــیاري تقوا ده، بده ناپوهي په ښکاره گناه ده، ښه ریښتیا امانت ســـاتل دي، بد درواغ خیانت؛ د یو چا امانت مال ساتل آسـان دي خود یو چا امانت راز ســاتل گران دي ځکه نو په مال کې تـر خیانت کونکي هغه کس لوی خائن دی چې ستا امانت راز افشاء کوي؛ وایي: که تجاوز کول خبـري کولای او بیا یــي د قــربیانو نســـبت ځان ته کولای نو ضرور به یې داسي ویلي وای:

ظلم مې پلار دی، بدي مې مور ده، خیانت مې ورور دی، ویـرانـي مـې وطن دی او قوم مـې جهالت دی؛ تـر ټولو دردناکه خبره داده چې د خیانت په زمانه کې د خیانت کونکي په محبت باور وکړل شــــي؛ د امویانو په خلافت کې یوه خلیفه ښکلې مانۍ جوړول ابوذر غفاري رضـي الله عنه داسي ورته وویل:

که دغه مانۍ په خپلو پیسـو جوړوې اسراف دی او که یې د امت په پیســو جوړوې خیانت دی، الله تعالـی هیڅکله خائن واکمن ته د رحمت په نظـــر نه گوري؛ خیانت لکه هوا په محض دروازه خلاصـولو بې اجازې داخلیږي باید لړ لار هم ور نه کړل ســـي؛ د خیانت لفظ د زړونو په قاموس کې نشـــــــته؛ چې امانت ساتل پریږدي او په خیانت راضـي شــي هغه کس له دینه بې زاري اختیار کړه؛ د خائن په حقیقت کې د ټولو ځخه نفرت کیږي، ځکه خیانت سرحد نه لري چې د یوه سره به کیږي بل به خلاصـیږي؛ کوم شپانه چې په لیوه باور کوي هغه د گټې سره محبت نه لري ځکه په خائن باور کول له گټو بې زاري ده ، یعنــي دا چــې په خائن باور کول د خپلو گټو ځخه نفرت کول دي؛ مخته دې ښوونکی زمری ښــه دی تر دې چې خائن ســپی دې چوکیدار وي؛ ځوک چې د خپل هیواد سره خیانت وکړي داســـې مثال لري لکه ځوک چې د پلار ځخه

مال غلا کړي غله په ماړه کړي، نه پلار بخښــه ورته کوي او نه غله انعام ور کوي؛ ډېــــر وخت خیانت له ډېـر باور ځخه پیدا کیـږي، کله نا کله د اعتمادي کس امتحان اخســتل هم د خیانت لاره بندوي؛ که ځوک د ضــمیر خیانت کوي او که جسمي خیانت کوي هیڅ فرق نه لري دواړه صورت نیســي؛ که ځوک یو ځلي خیانت درسره وکړي دا دده گناه ده او که یې دوهم ځل درسره وکړي ســــــــتا گناه ده؛ خیانت په حقیقت کې ســپک مردار ســوی حیوان دئ پاک وجدان لرونکی کس لیري ځنـي پاتیـږي؛ په هغه ژوند کې خیر نشــــــته چې مور یې له وختونو سره خیانت کوو خو موتې یې مور ته ښکلارا بخښي؛ هر دوســـت تر باور کولو مخکې تجربه کړه؛ د یو سړي لپاره دومره خیانت بس دی چې د خائنانو امانتدار وي؛ تـــر ټولو لوی خیانت دادی چــې خلک په جزئي خبرو اخته وي او ددین دښمنان د امت په ریښو کښلو اخته وي.